International Foundation for Electoral Systems

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ

# د ضد او نقیضو اطلاعاتو پرمهال د ټاکنو سلامتیا ساتل




د کووید-۱۹ په اړه
د آیفیس د لیکنو
لړۍ

# د ضد او نقیضو اطلاعاتو پرمهال د ټاکنو سلامتیا ساتل

**لیکوالان:**

لیزا رېپېل (Lisa Reppell)

په نړیواله کچه د ټولنیزو رسنیو او ناسمو اطلاعاتو د چارو کارپوه

بیتا مارټین روزملویز (Beata Martin-Rozumiłowicz)

د اروپا و اوقیانوسیه سیمه ایز رئیس

واسو موهن (Vasu Mohan)

د آسیا و اوقیانوسیه سیمه ایز رئیس

**مشر سمون کوونکی:**

اریکا شین (Erica Shein)

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د روزنې او څېړنې برخې مشر

**سمون کوونکي:**

چاد ویکری (Chad Vickery)

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د نړیوالې تګلارې او تخنیکي مشرتابه مرستیال

آنجلا کانتربری (Angela Canterbury)

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د ستراتیژیکو اړیکو او دادغوښتنې مشر

د کرونا ویروس (COVID-19) په اړه د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د لیکنو لړې: د ضد او نقیضو اطلاعاتو پرمهال د ټاکنو سلامتیا ساتل– د دغې لیکنې د چاپ او نشر ټول حقوق د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ ته خوندي دي.

**د دغې لیکنې د ترلاسه کولو اجازه:** د دغې معلوماتي لیکنې هر زار کارول که په الکترونکي بڼه وي او یا هم په تخنیکي شکل؛ کاپی کول، چاپ او بیا نشرول د آیفیس اجازې پرته ترسره کیدای نشي.

د اجازې ترلاسه کولو لپاره غوښتنلیکونه باید لاندي معلومات ولري:

- د هغه موادو په اړه معلومات چې کاپي کولو ته یې اړتیا لیدل کیږي
- دا مواد په کومه موخه او مقصد او په څه شکل کارول کیږي
- د غوښتونکي نوم، دنده، د مؤسسې/سازمان نوم، د تیلیفون شمیره، بریښنایي او پوستي پته.

په مهربانۍ سره ټول غوښتنلیکونه باید لاندي پتې ته واستول شي:

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ

2011 Crystal Drive, Floor 10 Arlington, VA 22202

پستي کود: VA 22202

بریښنالیک: editor@ifes.org

د فکس شمیره: 202.350.6701

# منځ پانګې (محتويات)

**وړاندوینه** ........................................ ۱

**مننديونه (قدرداني)** ........................................ ۲

**اجرايي لنديز** ........................................ ۳

**سريزه** ........................................ ۵

ناسم معلومات او کړکېچني څرګندونې ........................................ ۶

کورني نفوذي عمليات ........................................ ۷

بهرني نفوذي عمليات ........................................ ۸

**مهمې موندنې** ........................................ ۱۰

د ټاکنيزو مبارزو بهير پر سلامتيا د کوويد-۱۹ اغيزې ........................................ ۱۰

د ټاکنو تنظيم او عملياتو پر سلامتيا د کوويد-۱۹اغيزې ........................................ ۱۰

د ټاکنو وروسته بهير پر سلامتيا د کوويد-۱۹ اغيزې ........................................ ۱۲

د ډيموکراسۍ پر سلامتيا د کوويد-۱۹ اغيزې ........................................ ۱۳

**وړانديزونه** ........................................ ۱۴

د ټاکنو تنظيم کوونکو نهادونو ته وړانديزونه ........................................ ۱۴

د مدني ټولنې سازمانونو ته وړانديزونه ........................................ ۱۴

سياسي ګوندونو او نوماندانو ته وړانديزونه ........................................ ۱۴

نړيوالو مرستندويانو او د تخنيکي مرستو چمتو کوونکو ته وړانديزونه ........................................ ۱۵

ټولنيزو رسنيو ته وړانديزونه ........................................ ۱۵

## وړاندوینه

پداسې حال کې چې د کووید-۱۹ ناورین زموږ د ژوندانه پر ټولو چارو اغیز پرېښودلی دی او په دې اړه ناسم معلومات او ګنګوسې هم په چټکۍ سره خپرېږي؛ 'د ضد او نقیضو معلوماتو پرمهال د ټاکنو سلامتیا ساتلو' په اړه د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ دا لیکنه د مدني ټولنې سازمانونو، سیاسي ګوندونو، نوماندانو، نړیوالو مستندویانو او د تخنیکي مرستو چمتو کوونکو او ټولنیزو رسنیو ته د دا ډول مسائلو د رسیدګۍ څرنګوالی په اړه، سپارښتنې وړاندې کوي. دا لیکنه په ټاکنو کې ښکیلو سازمانونو ته د ګنګوسو څخه د مخنیوي پر اهمیت او د ناسمو معلوماتو او ګنګوسو پر وړاندې مبارزه کې د اړیکو ټینګولو او پلان جوړولو په ارزښت ټینګار کوي. پداسې حال چې د کووید-۱۹ پراخ لمنې ناروغۍ د ټاکنو تنظیم کوونکې نهادونه په خپلو عملیاتو کې د بدلون راوړلو ته اړ ایستلي؛ د ټاکنو چارواکي د اړیکو خوځښت کې د چټک بدلون شاهد دي، چې دې کار د رأیې ورکوونکو د پوهې او د هغو د رسنیزې لوستې ارزښت خورا مهم کړی دی. دا هڅې پر دې درک ولاړې دې، چې اړیکې او همکارۍ د روڼتیا په زیاتیدو او د ډیموکراسۍ په ساتنې ژورې اغیزې لري.

د ډیموکراسۍ کمزورې کولو لپاره هر ډول هڅه په اصل کې د منلو وړ عمل ندی او د اوسني عامې روغتیا ناورین څخه د ګټې پورته کولو لپاره هر ډول هڅې د ټاکنو لپاره لوې ننګونې رامینځته کوي. آیفیس اوس مهال د ټاکنو تنظیم کوونکو نهادونو لپاره د فکر کولو او پلان جوړولو په برخه کې مخکښ دی. د بحران پداسې یو مهم وخت کې پدې اړه هڅې نه یوازې د ټاکنو چارواکو بلکې د ټاکنو ټولو ښکیلو خواوو لپاره خورا مهمې دې. د معلوماتو، علم او تجربو شریکول د ناسمو معلوماتو او ګنګوسو سره د مبارزې لپاره د راتلونکو فعالیتونو لپاره بنسټ جوړوي او د نړۍ په کچه د ټاکنو تنظیم ډیری نهادونه د ټاکنو سلامتیا لپاره د ملګرو او شبکو د درلودلو پر اهمیت باندې ټینګار کوي.

**ایرنا هادزیاییدک**

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د مدیره هیئت غړې

د بوسنیا هرزیګوینا د ټاکنو مرکزي کمیسیون غړې

# مننديونه (قدرداني)

د دې لنډيز ليکوالان د رسنيو څار ادارې (MEMO 98) د اجرائيوي رييس ښاغلي راستو کوزيل (Rasto Kuzel)، آيفيس د آسيا او اوقيانوسيه برخې سلاکار ښاغلي کايل ليمرګي (Kyle Lemargie)، د سريلانکا او بنګلاديش لپاره د آيفيس سيمه ييزه مشره، ميرمن سيلجه سايلينا (Silja Paasilinna)، آيفيس د ګرافيک ډيزاين د برخې مشر ښاغلي کيټن وان بيويرين (Keaton Van Beveren) او آيفيس د اړيکو برخې مشر جينين ډفي (Janine Duffy) څخه د دې لنډيز د بياکتنې لپاره د دوي ارزښتناکه مرستې څخه مننه کوي.

# اجرايي لنډيز

## سرليک

پداسې حال کې چې د ټاکنو چارواکي هڅه کوي ترڅو د کووید-۱۹ ناروغۍ پرمهال ټاکنې په خوندي ډول ترسره کړي؛ خو که چیرې دوی د ټاکنو په اړه معلومات په مناسب ډول خپاره نه کړي، نو بنايي چې د دوی هڅې زيانمنې شي. د فرصت طلبو او ډیموکراسی ضد فعالانو لخوا د ناسمو معلوماتو او ګنګوسو د کمپاینونو په لاره اچول او د وسلې په توګه د کرکجنو څرګندونو څخه کار اخیستل، د ټاکنو او دیموکراسی سلامتيا ته لنډمهالي او اوږدمهالي ننګونې رامينځته کوي. د ټاکنو په کړندلارو کې د کووید-۱۹ په تړاو ځانګړي بدلونونه، بنايي په معلوماتو کې د لاسوهنې زمينه برابره کړي؛ چې دا کار رايې ورکوونکي د رأيې ورکولو له حق څخه بې برخې يا له خطر سره مخ کولای شي. د ننګونو له زياتيدو سره، هغه زوروا‌کي چې د ګډوډيو څخه د سياسي ګټې پورته کولو په تمه دي؛ د موجودو ننګونو د پراخ بنودلو او ناسمو روایتونه ته د دوام ورکولو له لارې غواړي ترڅو په ډیموکراتيکو نهادونو او بهيرونو د خلکو باور کمزوری کړي. دا لينکه د کورنيو او بهرنيو کړيو لخوا د کووید-۱۹په اړه د ناسمو معلوماتو او ګنګوسو پورې تړلي عملياتو د اغيزو په څرنګوالی تمرکز کوي او د ټاکنو پر سلامتيا، ډيموکراسی او د سياسي حقونو په شمول د بشري حقونو پر ساتلو د هغو پايلې څيړې.

## د موضوع بيان

د کووید-۱۹ په اړه د معلوماتو زیاتيدل هغه فضا رامنځته کړې چې د روغتيا نړيوال سازمان (WHO) هغه د "infodemic" يا د ضد او نقيضو معلوماتو پراخه کچه بولي او پدې حالت کې خلک هڅه کوي ترڅو د باور وړ سرچينې او معتبره لارښوونې ومومي. پداسې حال کې چې د کووید-۱۹ په اړه له حده زيات او بيلابيل ډول معلومات د عامې روغتيا لپاره خورا پراخې پايلې رامنځته کړې دي؛ همدا راز په داسې وخت کې د سالمو ټاکنو د ترسره کولو پر وړتيا باندې هم اغيزې پرځولې ده. د خلکو د روغتيا ساتنې لپاره د ټاکنو په بهيرونه او کړنلارو کې د يو لړ بدلونونو راوړلو ته اړتيا ليدل کيږي. څرنګه چې دا مسئله د *"ټاکنې او روغتيا ساتنه"* تر سرليک لاندې د کووید-۱۹ په اړه د ټاکنيزو سيستمونو نړيوال بنسټ په لومړۍ معلوماتي ليکنه کې څيړل شوې ده.[1] د رايې ورکونې په پېژندل شويو بهيرونو کې د پام وړ بدلونونو او د معتبرو معلوماتو په پيژندلو کې د ستونزو زياتوالی، د لاسوهنې او ناسمو معلوماتو د خپريدو لپاره يو زيان منونکی چاپيريال رامينځته کوي.

هغه معلوماتي ننګونې چې د ټاکنو په ترڅ کې د کووید-۱۹ په اړه د پراخو معلوماتو له امله رامنځته کيږي؛ نه يوازې د ناسمو معلوماتو، ګنګوسو او کرکجنو څرګندونو کچه نه کموي بلکې موجودې ننګونې زياتوي. د ناسمو معلوماتو سربيره - کوم چې د تعريف له مخې 'هغه غلط معلومات دي چې د غولولو ارادې پرته، وويل کيږي' - کورني او بهرني لوبغاړي د کووید-۱۹ په اړه د ګنګوسو او کرکجنو څرګندونو څخه د سياسي ګټې پورته کولو او د ډيموکراسی ضد احساساتو د پياوړي کولو لپاره استفاده کوي.

## مهمې موندنې او وړانديزونه

دا ليکنه د ټاکنيزو مبارزاتو، د ټاکنو پلان جوړولو او عملياتو بهير او د ټاکنو وروسته دورې په شمول د ټاکنو پر دوران د کووید-۱۹ اړوند معلوماتو د ننګونو د اغيزو پر پيژندلو باندې تمرکز کوي. د هغو روښونو په اړه د زده کړای شويو درسونو څخه چې د تيرو ټاکنو په جريان کې د ناسمو معلوماتو، ګنګوسو او کرکجنو څرګندونو لپاره کارول شوي؛ د کووید-۱۹ له امله د هغو زيانو د بدلون او زياتوالی د اټکل لپاره استفاده کيږي. که څه هم د معلوماتو اعتبار ننګونو سره د مقابلې لپاره اوږدمهاله مداخلې اړينې دې، دا ليکنه د کووید-۱۹ لخوا رامينځته شوې فوري ننګونې په ګوته او هغو ته پام کوي.

- **د ټاکنيزو کمپاينونو پر سلامتيا د کووید-۱۹ اغيزې:** سياسي ګوندونه او نوماندان بنايي د ناورين په ترڅ کې د کمپاين لپاره د محدودو ځايونو له وجې، رأيې ورکوونکو ته د لاسرسي او د هغوي د بسيج کولو لپاره مجازي نړۍ (آنلاين فضا) ته مخه کوي. ځکه نو پر ټولنيزو رسنيو د څيړنې او ځارنې د پراختيا لپاره دومداره هڅو ته لومړيتوب ورکول شوی دی.
- **د ټاکنو تنظيم او عملياتو پر سلامتيا د کووید-۱۹ اغيزې:** رأيه ورکوونکي مجبور دې ترڅو په قانوني ټاکنيزو بهيرونو کې د بنسټيزو بدلونونه په اړه نيوي معلومات زده کړي. په داسې شرايطو کې بنايي د رأيه ورکوونکو لپاره د رأيې ورکونې د مخنيوي د دوديزو ټاکتيکونو پيژندل خورا ستونزمن کار وي. د ټاکنو په ترسره کولو کې هغې تيروتنې او بې نظمی چې احتمالاً د نويو کړنلارو له امله زياتيږي، بنايي د پراخو درغليو د روايتونو سپيناوی وکړي. سربيره پردې، بد لوبغاړي بنايي د رأيې ورکوونکو د نوم ليکنې، د ګډون کچې او د ټاکنو بهير د ګډوډولو لپاره د کووید-۱۹ ناروغۍ څخه ويره، ديره اوچته وبنيي.

- **د ټاکنو وروسته بهیر باندې د کووید-۱۹ اغیزې:** له ټاکنو وروسته پر کووید-۱۹ ویروس د اخته کېدو کچې د زیاتوالي په اړه ناسم معلومات کولای شي دا سوچ رامنځته کړي چې ټاکنې په خونړۍ توګه ترسره کېدی نشي. سربېره پردې، ناسم معلومات یا کنګوسې چې په کړنلارو کې د بدلون له امله رامنځته شوې تېروتنې سترې ښیې ترڅو د درغلیو په اړه روایتونه پیاوړي کړي؛ کولای شي د ټاکنو سلامتیا د کمزورلو لپاره سیاسي هڅې را وپاروي یا د ټاکنو پایلې غیرقانوني وښیي یا بې پایلې قانوني ننګونې رامنځته کړي.
- **د دیموکراسۍ په سلامتیا د کووید-۱۹ اغیزې:** حکومتونو د کووید-۱۹په اړه د ناسمو معلوماتو، کنګوسو او کرکجنو څرګندونو د مخنیوي لپاره یو شمېر قوانین وضع کړي دي. دا قوانین د نړیوال بدلون لپاره د یو لړ موجودو قوانینو په دوام رامنځته شوي قوانین دي چې په ترڅ کې یې پالیسۍ جوړونکي هڅه کوي ترڅو ستونزمن مینځپانګیو ته پداسې شکل جرمې بڼه ورکړې چې د بیان آزادۍ او مطبوعاتو ته زیان رسوي. داسې قوانین تر ډېره په ګوندې شکل پلي کیږي چې په واک کې ښکیل سیاسي ګوندونه او سیاستوال ترې سیاسي ګټې پورته کوي.

دې ننګونو ته په کتو سره، دا لیکنه یو لړ مهمې سپارښتنې وړاندې کوي.

**د ټاکنو تنظیم کوونکي نهادونه (EMBs)** باید د فعالو ارتباطي تګلارو له لارې د رأیې ورکوونکو د ګډون او ښکیلتیا پر ساتنې تمرکز وکړي؛ ترڅو خلکو سره دقیق او پر وخت معلومات شریک او د نویو بهیرونو او کړنلاور په اړه د رأیې ورکوونکو د پوهې کچه لوړه شي. همدا راز د ټاکنو تنظیم کوونکي نهادونه باید د بحران په ترڅ کې د اړیکو ټینګونو پلان (crisis communication plan) هم جوړ کړي او د عامې روغتیا چارواکو سره د دودیزو او ټولنیزو رسنیو د اړیکو ټینګولو چینالونه هم په پام کې ونیسي.

**د مدني ټولنې سازمانونه (CSOs)** باید خپل څارنیز فعالیتونه ډېر کړي ترڅو د دولتي ادارو او چارواکو روڼتیا او حساب ورکونه پیاوړې او د ناسمو معلوماتو او کرکجنو څرګندونو سره مبارزه وکړي.

**سیاسي ګوندونه او نوماندان** باید د کرکجنو څرګندونو او ناسمو معلوماتو څخه پرته د خپلو ټاکنیزو کمپاینونو ترسره کولو ته ژمن و اوسي؛ په ټولنیزو رسنیو کې د سیاسي تبلیغاتو د افشا کولو شرایطو او د ټاکنیزو مبارزو د مالي چارو د تمویل قانون مطابق عمل وکړي او د رأیې ورکوونکو لپاره د عامه پوهاوي برنامو کې د کووید-۱۹ په اړه د ځواب ورکولو پیغامیز سیستم رامینځته کړئ.

**نړیوال مرستندویان او د تخنیکي مرستو چمتو کوونکي** باید د هغو قانوني او جوړښتي اصلاحاتو د ملاتړ ترڅنګ چې د کوښښ کړای شویو ډلو ساتنه کوي او په ټاکنو کې د هغوي ګډون کچې ته وده ورکوي؛ د هغو قوانینونو او مقرراتو مخه هم ډپ کړي چې ناسمو معلوماتو، کنګوسو او کرکجنو څرګندونو ته پداسې شکل جرمې بڼه ورکوي چې د بیان آزادۍ او مطبوعاتو ته زیان رسوي.

**د ټولنیزو رسنیو پلیټ فارمونه** باید ډاډ ورکړي چې دوي په ټاکنو کې د قانوني لاسوهنې مینځپانګو او کرکجنو څرګندونو ارزونې ته - لکه څنګه چې د دوي په معیارونو او لارښودونو کې تعریف شوي – لومړیتوب ورکړی دی او په دې اړه اغېزمن کامونه پورته کوي. دوي باید په منظم ډول د دغو تعریف شویو سرغړونو په اړه بیلابیل فیډبکونه هم خپاره کړي. د ټولنیزو رسنیو پلیټ فارمونه باید د معتبرو روغتیایي او ټاکنیزو معلوماتو د پراخو خپریدو لپاره د ټاکنو تنظیم کوونکو نهادونو او عامې روغتیا چارواکو سره په دوامداره توګه کار وکړي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره *د کووید-۱۹ په اړه د آیفیس د مقالو بشپړې بستې*[۲] ته مراجعه وکړئ.

د نورو سرچینو د پیدا کولو لپاره *د دیموکراسۍ پاینبت لپاره د آیفیس لارښود*[۳] وګورئ.

# سريزه

هغه افراد چې د کووید-۱۹په اړه د معلوماتو راټولو په لټه کې دي، له هر راز معلوماتو سره مخامخ کیږي او هڅه کوي ترڅو د خپل ماحول او د نړۍ په کچه د دې ويروس د پرمختګ او اغيزو په اړه معتبر معلومات ترلاسه کړي. پداسې حال کې چې تلويزيون او راډيو د معلوماتو مهمې سرچينې بلل کيږي[۴]؛ ډيرى خلک په مجازي نړۍ کې په آنلاين شکل د اضافي ځوابونو په لټه کې دي. د ټولنيزو رسنيو پليټ فارمونه د کووید-۱۹په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره په نړيواله کچه د لټون انجنونو[۵] په استفادې کې د زياتوالي راپور ورکوي.[۶] او په مجازي نړۍ کې د آنلاين خبري رسنيو د ليدونکو په شمير کې هم د پام وړ زياتوالى په سترګو شوى دى.[۷] د کووید-۱۹ روغتيايي بحران په لومړيو ورځو کې د روغتيا نړيوال سازمان د "infodemic" يا د پراخو ضد او نقيضو معلوماتو د خپريدو اصطلاح وړاندې کړه؛ ترڅو پدې برخې کې د خورا زياتو معلوماتو - يو څه دقيق او يو څه غلط – صحت تشخيص کړي. د ضد او نقيضو معلوماتو له وجې، خلکو ته ستونزمنه شوې چې د اړتيا په صورت کې باوري سرچينو او معتبرو لارښوونو ته لاسرسي پيدا کړي.[۸] که څه هم د معلوماتو زياتوالى څو اړخيزه اغيزې لري؛ دا ليکنه د کووید-۱۹ په اړه د ناسمو معلوماتو، کنګوسو، کرکجنو څرګندونو او د کورنيو او بهرنيو لوبغاړو د فعاليتونه د اغيزو پر څرنګوالى او د ټاکنو په سلامتيا، په ډيموکراسۍ د باور کچې او همداراز د سياسي حقونو په شمول د بنسټيزو بشري حقونو د خونديتوب د ويروس پر اغيزو تمرکز کوي.

څرنګه چې د ټاکنو چارواکي د کووید-۱۹ناروغۍ په جريان کې د خوندي ټاکنو ترسره کولو لپاره د عامې روغتيا ننګونو د کمولو لپاره کار کوي، د دوي لاسته راوړنې د رأيې ورکوونکو لپاره د دقيقو او عملي معلوماتو د تضمين لپاره د دوامدو هڅو سربيره، کميږي. د ۲۰۲۰ کال د پسرلي هره ورځ د ټاکنو ځنډولو په اړه خبرې کيدلې[۹] او د ټاکنو چارواکو د يوې فوري ټول پوښتنې وروسته، د ټاکنو په کړنلارو کې يو شمير پراخ بدلونونه پلي کړل چې له امله يې د رأيې ورکونې څرنګوالى، ځاى او وخت کې تغييرونه رامنځته شول.[۱۰] ګړنديو بدلونونو ته په پام سره، دا اړينه ده ترڅو رأيې ورکوونکي د ډاډمنې نوم ليکنې او رأيې ورکونې په اړه معتبرې لارښودونې ترلاسه کړي. د رأيې ورکونې مرکزونو بلاقوه کارکوونکي هم ورته معتبره معلوماتو ته اړتيا لري ترڅو د ټاکنو په بهير کې په خوندي ډول د برخه اخيستلو په اړه پريکړې وکړي. د پراخو معلوماتو جوړښت او له وړاندې پيژندل شويو بهيرونو کې ګړندي بدلونونه، د غلط فهمۍ او سوءتفاهم لپاره زمينه رامنځته کوي؛ چې دا حالت د ټاکنو پر سلامتيا جدي اغيزې لري. په ورته وخت کې د ټاکنو سلامتيا زيانمن کيدل، کولاى شي د ټاکنو پايلو مشروعيت باندې د خلکو د باور کچه راټيټه او ولسواکه حکومتدارۍ ته مستقيم ګواښ پيښ کړي.

د ضد او نقيضو (infodemic) يا مبهم معلوماتو رامينځته کولو کې ډيرى پرتونه شامل دي. لومړى دا چې خلک د مختلفو سرچينو د پراخو معلوماتو سره مخ دي. هغه ستونزې چې دې سيلاب رامنځته کړې، د کووید-۱۹ او د هغه خپريدو په اړه د پوهې او د نظر اتفاق نشتوالي دى چې دا حالت حتي د عامې روغتيا چارواکو ترمنځ ليدل کيږي. ځينې اشخاص بيا د خپلو ليدلورو او چلندونو پر بنسټ د ناسمو معلوماتو او کرکجنو څرګندونو په پياوړي کولو او خپرولو سره د معلوماتو فضا ککړوي.

**کنګوسې:** هغه ناسم يا غلط معلومات دي چې د مغرضو افرادو لخوا له يوې موضوع نه د ګټه پورته کولو يا زيان رسولو په نيت رامينځته يا خپريږي. بنايي د دغه شان معلوماتو موخه اشخاصو، ډلو، بنسټونو يا بهيرونو ته مستقيم زيان رسول وي.

**ناسم معلومات** هغه غلط معلومات دي چې د هغو ناسمتوب پر پوهيدو او د زيان رسولو نيت پرته خلکو سره شريکيږي. په ځينو مواردو کې لوبغاړي په ناپوهۍ سره دا ډول معلومات د خپلو اړوندو شبکو له لارې په دوامداره توګه شريکوي او باور لري چې هغه سم معلومات دي.

**کرکجنې څرګندونې** "هر ډول ويناوې، ليکلنې يا چلند چې د يو شخص يا ډلې د پيژندنې په هکله او يا په بل عبارت د مذهب، توکم، نژاد، رنګ، جنس يا د پيژندنې کوم بل عامل پر بنسټ په کرکجن يا

دغه له يو بل سره تړلې ننګونې په ډيموکراتيکو ټولنو کې زيانمنونکي دي؛ څکه چې د ډيموکراسۍ ضد لوبغاړي لا له وړاندې لدې وضعيت څخه د ګټې اخيستنې په لټه کې دي. په لاندېنۍ برخه کې کافي شواهد موجود دي چې بهرني او دولت پورې تړلي نفوذي فعاليتونه د کووید-۱۹په اړه ناسمو معلوماتو او کنګوسو څخه په استفادې سره، د خپلو ډيموکراسۍ ضد سياسي او جيوپوليټيکې موخو د پياوړي کولو په لټه کې دي. کورني او بهرني لوبغاري هم د خپلو سياسي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره په ټولنه کې د تعصب او کرکې د رامنځته کولو په موخه د کووید-۱۹ په اړه له ويرې او ګډوډې څخه کار اخلى. دوي تر ډيره بريده د تفريقې پياوړې کولو او د ټولنې د ويشلو لپاره غولونکي تاکتيکونه کاروي.

د کووید-۱۹ پانډيمۍ په جريان کې په پراخه کچه د کرکجنو څرګندونو، ناسمو معلوماتو او کنګوسو پارول او شريکول د هغو ورته سيستماتيک او پارونکو ننګونو څخه په استفادې سره چټک کيږي چې له وړاندې د يادې ناروغۍ په اړه موجود دي. د مثال په توګه:

- که چيرې خبريالان ونشي کولاى په خپلواکه او خوندي چاپيريال کې کار وکړي؛ يا هغوي په بشپړ ډول خيړنې ترسره نه کړاى شي، نو بنايي چې عام وګړي د مشکوکو معلوماتو سرچينو ته مخه کړي يا د ښو او بدو لوبغاړو ترمنځ توپير ونشي کړاى.

- د ډیجیټالي فضا او رسنیو په برخه کې د خلکو د سواد کچه دا په ډاګه کوي چې آیا دوي د ناسمو معلوماتو او ګنګوسو څخه د معتبرو معلوماتو توپیر کولای شي.
- د ټاکنیزو مبارزو د مالي چارو یا د اداري فساد پر وړاندې د مقرراتو او همدا راز د کورنیو سیاسي لوبغاړو لخوا د ټولنیزو رسنیو پر استفادې د څارنې نشتوالی دوي ته اجازه ورکړې ترڅو د ناسمو معلوماتو او کرکجنو څرګندونو د خپرولو لپاره د مجازاتو څخه د معافیت له ټاکټیک نه ګټه پورته کړي.
- د ناسمو معلوماتو کمپاینو په لاره اچولو لپاره مالي هڅونې، چې په لوړه کچه مخاطبینو ته رسیږي، د معلوماتو فضا نور هم ککړه کوي.
- له وړاندې موجود ټولنیز درزونه سیاسي او ایډیولوژیک لوبغاړو لپاره د ګټه پورته کولو ساده هدفونه رامینځته کړي.

دغه ټول عوامل د ناروغۍ په جریان کې کارول کیږي او په حقیقت کې کووید-۱۹ هغه پیاوړی کوي. رسنیو د کووید-۱۹په جریان کې د هغو مالي فشارونو له وجې چې له ناورغۍ وړاندې موجود ول؛ خپل یو زیات شمیر خبریالان له خپلو دندو ګوښه کړي دي.[۱۱] همدا راز فرصت طلبو لوبغاړو د کووید-۱۹ په اړه د ګنګوسو ترسره کولو له لارې د ټولنیزو رسنیو لیدونکي دوکه کړي دي ترڅو د دوي له اعلاناتو څخه ګټه پورته کړي.

دا لیکنه به د کووید-۱۹ ناروغۍ په جریان کې د معلوماتو بشپړتیا ننګونو د بیلابیلو پرتونو په اړه په لنډه توګه بحث وکړي. په پیل کې به هغه ناسم معلومات او کرکجنې څرګندونې وڅیړل شي چې د کووید-۱۹ په اړه په انفرادي توګه خپریږي. وروسته بیا د هغو کورنیو نفوذي عملیاتو څرنګوالی څیړل کیږي چې دولت پورې تړلي لوبغاړي د کووید-۱۹ ناروغۍ نه په استفادې سره خپلو خلکو ته د ناسمو معلوماتو په وړاندې کولو چې ټولنیز درزونه پیاوړې کوي، د خپلو سیاسي ګټو په لټه کې دي. لیکنه دا هم څیړې چې بهرني لوبغاړي څرنګه د کووید-۱۹ ناروغۍ نه په استفادې سره، د خپلو ډیموکراتیکو سیالانو پر وړاندې د معلوماتو په مبارزه کې یوه نوې جبهه پرانیزي. شالید ته په کتو سره، دا لیکنه هغه مهمې موندنې بیان وي چې د احتمالي زیانونو د راکمولو لپاره د وړاندیزونو دمخه د ناسمو معلوماتو، کووید-۱۹ او ټاکنو ترمنځ سره اړیکې رامنځته کوي.

> آیفیس د ښوونکو او زده کوونکو لپاره یو نوښت رامنځته کړ چې د ډیجیټل فضا په اړه د هغوې د لوستې کچه پیاوړې کړي؛ ترڅو هغوي و کولای شي د کووید-۱۹ په اړه ناسمو معلوماتو او غلط روایتونو ته ځواب ورکړي. د اپریل په میاشت کې آیفیس د ټول اوکراین په کچه د ۳۰ همکارو پوهنتونونو یوې شبکې لپاره د "پانډیمي او ناسم معلومات: څنګه ځان د انټرنیټ درغلیو څخه خوندي وساتو" تر نامه لاندې یو انټرنیټي سیمینار (وبینار) پیل کړ. پدې سیمینار کې ښوونکو ته د ډیجیټل مینځپانګې خپرولو او کارولو د اوسنیو موډلونو او د عامه افکارو د فریب ورکولو وسیلو په اړه معلومات وړاندې شول. همدا راز ښوونکو ته د پانډیمۍ په ترڅ کې د غلطو روایتونو او ناسمو معلوماتو د پیژندلو لپاره عملي ټکي په ګوته شول.

## ناسم معلومات او کرکجنې څرګندونې

د کووید-۱۹ په اړه د ټولنیزو رسنیو له لارې د ناسمو معلوماتو خپریدل یوه ښه مستنده پیښه ده.[۱۳] د فېسبوک، یوټیوب او ټویټر په ګډون ټولو ټولنیزو رسنیو د خپلو پاڼو له لارې د کوویډ-۱۹ په اړه د ناسمو او بې لارې کوونکو معلوماتو د خپرولو پر وړاندې د مبارزې لپاره نوي تګلارې غوره کړي دي.[۱۴] په هغه شکل چې د معلوماتو اکوسیستم لخوا د کووید-۱۹ روغتیایي اړخونو په اړه ناسم معلومات خپریږي؛ نو د ټاکنو په اړه ناسم معلومات هم په ورته شکل خپریږي. دا معلومات ډیری وختونه د ټولنیزو رسنیو له لارې ډیرو لیدونکو او اوریدونکو ته رسیږي. څرنګه چې کاروونکي مینځپانګې له ویرې، عقیدې، قضاوت او ګټورتوب پرته شریکوي، د کووید-۱۹ ناروغۍ په ترڅ کې د په ټاکنو په جریان کې د رأیې ورکونې په اړه د دوي پریکړې هم په ورته ډول خپریږي.

*څرنګه چې کاروونکي مینځپانګې له ویرې، عقیدې، قضاوت او ګټورتوب پرته شریکوي، د کووید-۱۹ ناروغۍ په ترڅ کې د په ټاکنو په جریان کې د رأیې ورکونې په اړه د دوي پریکړې هم په ورته ډول خپریږي.*

د بیلګې په توګه په سومالیا او نایجیریا کې د کووید-۱۹په اړه ناسمو معلوماتو د ټاکنو چارواکي دې ته اړ کړل؛ ترڅو خلکو ته رښې څرګندونې وړاندې کړي. سومالیا د ټاکنو ملي ادارې د یو ټوییټ په خپرولو سره هغه تورونه رد کړي، چې ګنې ټاکنې د کووید-۱۹له امله ځنډیدلي دي.[۱۵] خو هغه وخت چې دوي دا سپیناوی خپور کړ، په دې اړه راپورونه د وخته په آنلاین رسنیو کې خپاره شوي ول.[۱۶]که څه هم په نایجیریا کې د دا ډول څرګندونو سرچینه معلومه نه وه، خو د نایجیریا ټاکنو ملي ادارې یوه رسمي اعلامیه خپره کړه و څرګنده یې کړه چې سیالو ډلو په یو شمیر ځانګړو سیمو کې د نوم لیکنې بهیر د ځنډولو په اړه د ټاکنیزو چارواکو اعلامیه جعل کړې ده.[۱۷]

څرنګه چې په لاندینو برخو کې څرګنده شوې، پداسې حال کې چې کرکجنې څرګندونې او انګیزنې کله نا کله په پراخه کچه د کورنیو او بهرنیو نفوذي عملیاتو په درشل کې د وسلې په توګه کارول کیږي؛ انفرادي کرکجنې څرګندونې هم خورا ژورې ستونزې رامنځته کوي. د ټاکنو په بستر کې، کرکجنې څرګندونې کولای شي په

ټاکنو کې د بېلابېلو ټولنو د ګډون ورتیا اغېزمنه او د ټاکنو سلامتیا ته زیان ورسوي؛ همدا راز د دوی بنسټیز سیاسي حقونه له پامه غورځوي او ډیموکراټیکو پایلو ته زیان ورسوي. لوبغاړي د کووید-۱۹ ناروغۍ نه په استفادې سره، نوې کرکجنې څرګندونې خپروي او د موجودو څرګندونو څخه پداسې شکل ګټه پورته کوي؛ چې و کولای شي نوماندان، رأیه ورکوونکي، د ټاکنو چارواکي، د مدني ټولنې سازمانونه او خبریالان - په ځانګړي توګه په هغو هېوادونو کې چې له تاریخي پلوه ټولنیزې او ټاکنیزې ستونزې لري — و ډار کړي. په هغو ولسواکه ټولنو کې چې د بشري حقونو پر بنسټ یو پراخ بنسټه حکومت د جوړلو لپاره هڅې کیږي، کرکجنې څرګندونې د یو بنسټیز کړکیچ په رامنځته کولو سره په ټولنه کې د "بیګانه توب" احساس پیاوړی کوي. د بېلګې په توګه: د کووید-۱۹ ناروغۍ له وجې د نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې آسیایي ضد زورونې او د کرکجنو څرګندونو پېښې په آنلاین او آفلاین فضا کې ډېرې شوې دي.[18] په چین کې ځینې افریقایي کډوال د ویروس بیا خپریدو له ویرې، تر جبري قرنطین او آزمایښې لاندې نیول شوي چې دې کار د هغوې پر وړاندې یو کرکجن وضعیت رامنځته کړی دی.[19] څرنګه چې په کور کې د پاتې کېدو محدودیتونو له امله په مجازي نړۍ (آنلاین فضا) کې د کارونکي شمېره اوچته شوې ده؛ د برتري غوښتونکو سپین پوستو کارونکو کچه هم لوړه شوې او هغوی د ټلګرام پیام استونۍ یو کود لرونکي بستر له لارې، د کووید-۱۹ ناروغۍ څخه په کار کمارلو د یو داستان په توګه کار اخلي.[20]

د جنډر نابرابرۍ او د ښځو پر وړاندې کړکه، دغه ننګونې لا پسې ډېرې کړې دي. دا یو مستند امر دی چې د طبعي پېښو پرمهال د جنډر پر بنسټ کورنۍ تاوتریخوالي ډېرېږي؛ ځکه چې مېرمنې ښايي د اوږدې مودې لپاره له هغو خلکو سره مخ شي چې د هغو له خوا تل زورول کیږي.[21] پدې برخه کې کووید-۱۹ هیڅ ډول توپیر رامنځته کړی نده. د مثال په توګه: فرانسې او لیتوانیا په ترتیب سره د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي کې ۳۲ سلنه او ۲۰ سلنه ډېروالي راپور کړی.[22] په هغه چاپېریال کې چې خلک خپل ډېری وخت په انټرنیټ کې تیروي او ټولنیزې رسنۍ او ویب سایټونه چې جنسي زورونه د نارینه وو د سرګرمۍ په توګه ترویج وي؛ د ښځو لپاره د دې ناامنه چاپېریال په رامینځته کولو کې دخیل دی. آیفیس "په ټاکنو کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي (VAWE)" تر عنوان لاندې په خپله لیکنه کې د کورني تاوتریخوالي، جنسي زورونې، آنلاین او آفلاین جنسي تاوتریخوالي او د مېرمنو سیاسي ګډون ترمنځ یو منفي تړاو رامینځته کړی.[23] په ډېری هېوادونو کې د ښځو د لوستې کچه ټیټه ده[24] او ډیجیټلي وسایلو[25] ته د ښځو محدود لاسرسي هم دقیقو معلوماتو ته د دوی د لاسرسي وړتیا محدوده کړې. پر ډیموکراټیک ګډون د کووید-۱۹ اغېزې د دې مجموعې په دوهمه لیکنې کې رانغړ شوې دي.

## کورني نفوذي عملیات

کورني او بهرني لوبغاړي په لوړه کچه د ناسمو معلوماتو، کرکجنو څرګندونو او تبلیغاتو په کارولو کې ماهر شوي دي ترڅو لدې لارې د خپلو ډیموکراټیک ضد اهدافو د پرمخ وړلو لپاره په ټولنه کې ویره او درز واچوي. دوی ښايي خپلې موخې د منځپانګو په رامنځته کولو چې د دوی روایتونه منعکس کوي یا له وړاندې خپاره شویو غلطو روایتونو د پیاوړي کولو له لارې ترلاسه کړي.

د کووید-۱۹ په اړه د ناسمو معلوماتو یا پارونکو انګېرنو د دوام ورکولو انګیزه ښايي د کورنیو سیاسي لوبغاړو محاسبو پورې تړلې وي. یا ښايي دوی د چمتوالي په لټه کې وي یا وغواړي چې د ټاکنو په جریان کې د خلکو د روغتیا ساتنې لپاره د ترسره شویو هڅو کچه په مبالغه آمیز شکل څرګنده کړي او یا د ناورین د خپریدو یا طبعیت په اړه د غلط فهمۍ له وجې ځان چمتو وښيي. د بېلګې په توګه: په برازیل د حقایقو ارزونې یوې ادارې ډېری پیغامونه په ګوته کړي چې د کووید-۱۹ په وړاندې مبارزه کې د ناسمو روغتیايي ادعاوې د پیامونو وړاندې کوونکو په ګډون د پېژندل شویو حکومتي ملاتړ کوونکو د مثبت ملاتړ په اړه یوه اړخیز روایت ته وده ورکوي.[26] په ځینو مواردو کې د کووید-۱۹ سره په مبارزه کې دولتي تبلیغات ناسم معلومات کاروي ترڅو د واکمن رژیم واک او مشروعیت پیاوړي کړي. د مثال په توګه: په مصر کې دولتي تبلیغاتو یو خبر خپور کړ چې ګواکې کووید-۱۹یوه غربي توطیه وه چې د مصر استخباراتي خدماتو ادارې لخوا شنده شوه او دا چې پدې برخه کې د مصر درملنه له چین او ایټالیا سره شریکه شوه.[27]

همدا راز دا احتمال هم شته چې سیاسي فعالین ځان سره داسې محاسبه کړې وي چې ګواکې دوی کولای شي د ناسمو معلوماتو په کارولو سره خپل ځواک پیاوړي کړي او یا د بحران په کم رنګه ښودلو او د ټاکنو پر ګړندي کولو - مخکې لدې چې د وبا ستونزې د دوی شهرت کم کړي — د ګډون کچه د خپل ګوند یا نوماندانو په ګټې بدله کړي. د مثال په توګه: په پولنډ کې واکمن ګوند د زیات اصرار له امله اړ شو ترڅو د ۲۰۲۰ کال د می ۱۰ نیټې ولسمشرۍ ټاکنو لپاره د پلان کولو لاره د ټاکنو ترسره کېدو څخه څو ورځې دمخه بدله کړي. د ټاکنو د ژر تر ژره ترسره کېدو لپاره، واکمن ګوند په پیل کې د خلکو د روغتیا ساتنې خطراتو ته پاملرنه ونه کړه او بیا یې هڅه وکړه چې په ټول هېواد کې د ټاکنو ځنډولو دمخه د پوست له لارې، رأیې اچونې په لاره واچوي. سربېره پردې، ځینې شنونکي وايي چې د برازیل ولسمشر جیر بولسنارو (Jair Bolsonaro) د کووید-۱۹ اقتصادي اغیزو څخه د ځان خلاصون لپاره د ناسمو معلوماتو یو کمپاین ترسره کوي.[28]

هغه سیاسي محاسبې چې کورني لوبغاړي د عامې روغتیا وضعیت او د ټاکنو چمتووالي لپاره د ناسمو معلوماتو د رامینځته کولو یا دوام ورکولو ته هڅوي؛ ترڅو لدې حالت څخه سیاسي ګټې پورته کړي؛ یو داسې رنځ دی چې د ټاکنو نیټې په را نژدې کېدو سره به دوام ولري. په ټولو پیښنو کې، له یوې خوا د ټاکنو د اهمیت او له

بلې خوا د خلکو د روغتیا لپاره د مشروع اندیښنې ترمنځ یو ښه د پام وړ انډول شتون لري. پریکړې باید تنظیم شوې او مشورتې وي، نه دا چې د لنډمهاله ګټو او سیاسي انګیزي په موخه ونیول شي.

هغه سیاسي لوبغاړي چې غواړي ځان له ملامتی یا ناوړه هڅونو څخه خلاص کړي، ښايي په قصدي توګه د توکمونو یا ټولنو ترمنځ د تاوتریخوالي را پارولو لپاره د ګڼکې او ناسمو معلوماتو د ترکیب څخه کار واخلي. د مارچ میاشتې په نیمایي کې په هندوستان کې د اسلامي پیښنو په مرکز کې یوه غونډه د کووید-۱۹ د خپریدو پړه وبلل شوه؛ پداسې حال کې چې نورې مذهبي ډلې هم په ورته وخت کې د لویو غونډو په فسخ کولو یا په خوندي توګه ترسره کولو کې پاتې راغلې وې. کله چې د یادې غونډې په تړاو په کووید-۱۹ د اخته کسانو شمیر زیات شو؛ د کرونا په وړاندې جهاد هشټېګ (#CoronaJihad) په ټولنیزو رسنیو کې د ټولې مسلمانې ټولنې پر ملامتو سره لاس پر لاس شو؛ او د ویروس خپریدو پړه پر مسلمانانو واچوله شوه. دا هشټاګ شاوخوا ۳۰۰ زره ځله راښکاره شو او د ۳۰۰ ملیونو څخه زیاتو خلکو لخوا په بلاقوه توګه ولیدل شو.[۲۹] ټولنې د جلا کولو لپاره دا ډول ځرګندونې چې د دوديزو رسنیو لخوا پیاوړی کیدلې د له وړاندې محاصره شوې د اقلیت ټولنې په وړاندې تعصب نور هم زیات کړی.[۳۰] د بشري حقونو یو فعال لیکوالانو ته داسې وویل: "موږ د دوه وو ویروسونو لخوا تر برید لاندې راغلي یو؛ کووید-۱۹ به په پای کې معالجه شي. خو دا د ټولنې ویروس ډیر خطرناک ویروس دی. چې له منځته وړل به یې ډیر وخت ونیسي." کرکجنې ځرګندونې کولای شي په آسانی سره په ټولنه کې تاوتریخوالي رامنځته او د قرنطین څخه وروسته د هغه دوام لپاره مناسب چاپیریال برابر کړي. په راتلونکو ټاکنیزو کمپاینونو کې له داسې روایتونو څخه په سیاسي ګټې اخیستلو سره، کیدای شي چې لرګي ټولنې د ټاکنیزو تاوتریخوالي په احتمالي هدفونو باندی بدل کړي.

"موږ د دوه وو ویروسونو لخوا تر برید لاندې راغلي یو؛ کووید-۱۹ به په پای کې معالجه شي. خو دا د ټولنې ویروس ډیر خطرناک ویروس دی. چې له منځته وړل به یې ډیر وخت ونیسي."

د کووید-۱۹ له امله د مرګ ژوبلې اغیزې، د موجودو ټولنیزو درزونو پراخولو ته لمن وهې. په سریلانکا کې د ژوند تر پایه د دودونو له مخې په ټولنیزو چارو کې سیاست شوی دی. د عامې روغتیا ځانګړي توجیهات د جنازې مراسو لپاره کارول شوي؛ حتی هغه مذهبي ټولنې چې د خپلو مړو ښخولو ته خورا ډیر اهمیت ورکوي، اړ ایستل کیږي چې خپل مړي وسوځوي. د لږکیو ټولنو مشرانو د دې قاعدې پر وړاندې، کوم چې د روغتیا نړیوال سازمان یا نورو معتبرو روغتیایي ادارو په لارښودونو کې نشته، خپل خپګان ځرګند کړی دی. دغه اقدام د پارلماني ټاکنو په درشل کې د ټولنې د غوڅ ملاتړ راټولولو اقدام په توګه ګڼل کیږي، کوم چې د لنډې مودې لپاره د ناروغۍ له امله ځنډول شوي.[۳۱]

## بهرني نفوذي عملیات

روسې او چین په ښکاره ډول د کووید-۱۹ناروغۍ په خپلو بهرنیو نفوذي عملیاتو کې شامله کړې.[۳۲] د کووید-۱۹ ناروغۍ په خپریدو سره، دا ګواښ زیات شوی چې یاد هیوادونو د خپلو جیوپولیټیکو او ډیموکراسۍ ضد برنامو لپاره د ناسمو معلوماتو او روغتیایي تبلیغاتو څخه د وسیلې په توګه کار اخلي.[۳۳] ځنې شنونکي خبرداری ورکوي چې ښايي لدې کار څخه د ټاکنو ګډوډولو یا د هغو د بې اعتباره کولو لپاره هم استفاده وشي.[۳۳]

د بیلګې په توګه یوه لویه اندیښنه دا ده چې د روسیې حکومت به دا ځل د کووید-۱۹ ناروغۍ په اړه د یو روایت په ځرګندونو سره، په ټاکنو کې د لاسوهنې هڅې تکرار کړي. ښايي داسې وښیې چې ډیموکراتیکې ټولنې د رامنځته شوي کړکیچ پر وړاندې مبارزې کې پاتې راغلي او نشي کولای ټاکنې په مناسب ډول ترسره کړي. دا تاکتیک په فرانسه کې وښودل شو چې د روسیې رسنیو د یاد هیواد د مارچ میاشتې په ټاکنو کې په کووید-۱۹ د رأيې ورکونې مرکزونو د کارکوونکي د اخته کیدو په اړه راپورنه خپاره کړل.[۳۴] ډیری شنونکي پدې باور دي چې د روسیې حکومت د هغو ناسمو روایتونو د پیاوړي کولو په لټه کې دی چې له وړاندې د خلکو په مینځ کې خپاره شوي دي.[۳۵] پخوانۍ تاکتیکونه چې د روسیې لخوا کارول کیږي، دا ځرګندوي چې د کووید-۱۹ ناروغۍ پر وړاندې څو اړخیزه کمپاین ښايي د ناسمو معلوماتو د خپریدو او پیاوړي کولو لپاره د رسمي خبري رسنیو او همدارنګه د غیر رسمي شبکو لکه bots،trolls او blogs څخه استفاده وکړي.

آیفیس په آسیا پسیفیک کې د مدني ټولنې ډلو سره کار وکړ ترڅو د کووید-۱۹ له وجې رامنځته شویو ناسمو معلوماتو، ګنګوسو او کرکجنو ځرګندونو پر وړاندې مبارزې لپاره د هغوي وړتیا اوچته کړي. آیفیس له ۱۰۰ څخه زیات سازمانونه او ۳۰۰ پوري د مدني ټولنې فعالین روزلي دي؛ تر هغوي د دقیقو معلوماتو د ترلاسه کولو په ځرنګوالي پوه شي او د انتقادي فکر د تصدیقولو او د راپور ورکولو په برخه کې د پلویتوب د پیژندلو لپاره له بیلابیلو سرچینو څخه استفاده وکړي. همدا راز د دې روزنیزې برنامې په ترڅ دا هم په ګوته شوې چې د بدنامو یا ګوښه کړای شویو ټولنو پر وړاندې د کرکجنو ځرګندونو پر وړاندې ځرنګه مقابله وشي او هغه خلک سره متحد شي چې د آنلاین بریدونو لاندې راغلي او یا د کووید-۱۹ خپریدو لپاره ملامت ګڼل کیږي. د روزل شویو نهادونو دغې شبکې سره په روانو خبرو اترو کې د ناسمو معلوماتو اوږد مهاله اغیزې، د کووید-۱۹ په اړه ناوړه ځرګندونې او د ټولنیز ګډون لپاره د

تر اوسه هم د کووید-۱۹حالت په چټکۍ سره بدلیږي او دا چې د ناسمو معلوماتو کمپاینونو څرنګه خپریږي او داسې کشش پیدا کوي، معلوم ندی. د ۲۰۲۰ کال د می میاشت راهیسې، روسیه په اروپا کې د کووید-۱۹ په مرکز بدله شوي[۳۶] او د نړۍ په کچه د کووید-۱۹ ناروغۍ تر ټولو ډیرې پیښې لري.[۳۷] دا لوړې شمیرې او د کووید-۱۹ ناروغۍ له امله په روغتون کې پوتین ته نژدې د مهمو افرادو بستری کیدل، بنایي هغه روش بدل کړي وي چې کرملین یې په راتلونکو میاشتو کې د کووید-۱۹ په اړه د ناسمو معلوماتو لپاره کاروي.[۳۸]

په هر حال، لومړی ګام هڅونکی نه وه. د ۲۰۲۰ کال د جنوري په میاشت کې د روسیې حکومت د شمالي آتلانتیک تړون سازمان (ناتو)[۳۹] او لیتوانیا[۴۰] هیواد د بې اعتباره کولو لپاره د ختیځې اروپا د وګړو ترمنځ د کووید-۱۹ په اړه، ناسم معلومات خپاره کړل. شنونکي په دې باور دي چې روسي چارواکي د هغو ناسمو معلوماتو د خپریدو ترشا لاس لري؛ چې په ترڅ کې یې وویل شول چې په لیتوانیا کې د ناټو د یو امریکایي سرتیري د کرونا تست مثبت دی. د مارچ په میاشت کې په یاد هیواد کې روسیې پلوه خبري سرچینو هم ټینګار وکړ چې د عامې روغتیا بحران لیتوانیایي چارواکي دې ته هڅولي چې روسیې پلوه رسنۍ بندې کړي.[۴۱]

روسیه پدې هم تورنه ده چې د تاوتریخوالي هڅولو او ټولنیز ویش لپاره ناسم روایتونه خپروي. د فبرورۍ په وروستیو کې د اوکراین روغتیا وزارت له آدرسه په کووید-۱۹ د اخته کډوالو د بیرته راستنیدو په اړه د ناسمو معلوماتو خپرولو، د Novi Sanzhary په ښار کې ګډوډې رامینځته کړه؛ چې له امله یې ګڼ شمیر ملکي وګړي او پولیس ټپیان شول.[۴۲] د بلجیم ملي امنیت سرویس (VSSE) خبرداری ورکړی چې پدې هیواد کې سخت دریځه سازمانونه د کووید-۱۹ ناروغۍ په اړه د ناسمو معلوماتو او احساساتي شعارونه په خپرولو سره، غواړې ترڅو خلک د یو بل پر ضد را وپاروي. د VSSE راپور د کووید-۱۹ ناروغۍ په اړه هغو توطیو او شعارونو ته هم اشاره کوي چې د ټولنیزو رسنیو له لارې د کډوالو او مسلمانانو پر ضد خپریږي.[۴۳] پدی راپور کې دا هم وویل شوي چې د کووید-۱۹ په اړه د ناسمو معلوماتو د خپرولو کمپاینونه په ټولنیزو رسنیو کې د روسیې په غوښتنه خپریږي چې موخه یې د "ګډوډیو رامنځته کول" او د" [لویدیز] او په ټوله اروپا کې د کین اړخو سخت دریځه فعالو ډلو کمزوري کول دي."[۴۴]

د چین نړیوالو نفوذي عملیاتو تاکتیکونه هم د کووید-۱۹ ناروغۍ په خپریدو سره، پراختیا موندلې. په لومړي سر کې د چین کمونست ګوند د کووید-۱۹ ناروغۍ د منشې او خپریدو په اړه د ناسمو معلوماتو په کمپاینونو کې ښکیل و او د روسیې له تګلارو څخه په تقلیدولو سره یې په معلوماتي فضا کې د ګډوډې او اختلاف د رامنځته کولو لپاره کار کاوه. د دې هڅو د پرمخ وړلو لپاره له ډیپلوماتیکي فضا، د چین حکومت د ټولنیزو رسنیو حسابونو او نورو رسنیزو چینلونو څخه کار اخیستل کیدل؛ ترڅو د توطیې تیورۍ او ضد او نقیض روایتونه را و پاروي.[۴۵] هغه ادعا چې د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند لخوا وشوه چې ګواکې د کووید-۱۹ ناروغۍ چین ته د امریکا متحده ایالاتو د پوځ استازو لخوا راوړل شوې؛ یو داسې مثال ده چې په پراخه کچه خپور شوی.[۴۶]

د چین کمونست ګوند ډیر پیژندل شوي تاکتیکونه کارولي دي. "د چینایي استخباراتي عملیاتو موخه تر ډیره بریده د یو واحد نه بدلیدونکي روایت ساتل دي چې د چین کمونست ګوند مثبت اړخ ښکاره کوي... د دې عملیاتو موخه د اطلاعاتي چاپیریال بې‌ثباته کول نه بلکې په بې ساري توګه د بیجنګ 'ښه' ښودل دي."[۴۷] روایتونه د ستونزې په مهارولو کې د چین استبدادي سیستم غوره والی او همدارنګه نورو هیوادونو سره په روغتیایي برخه کې د چین چمتوالی شي.[۴۸] د چین دولتي رسنیو او ټولنیزو شبکو سخت فشار دا روایت پیاوړی کوي او دا خبره په ګوته کوي چې په نورو هیوادونو کې واکمن او مستبد ګوندونو پدې لټه کې دي چې د ډیموکراتیکو حکومتونو په سیستم شک څرګند کړي. د تایوان په ټاکنو کې د لاسوهنې لپاره د چین هڅو ته په پام سره، دا احتمال رد کیدای نشي چې د چین کمونست ګوند په ټاکنیز ډګر کې د کووید-۱۹ ناروغۍ په اړه د ناسمو معلوماتو په کارولو، په ځانګړي توګه په هغو هیوادونو کې چې چین پکې جیوپولیټیکي ګټې لري، لاس پورې کوي.[۴۹]

سربیره پردې، د چین اقتصادي او سیاسي ځواک ته په کتو سره، د چین کمونست ګوند هڅه کوي ترڅو ځان د یو نړیوال خیر غوښتونکی - په ځانګړي ډول د امریکا متحده ایالاتو د رهبرۍ تشې له امله – په توګه راڅرګند کړي؛ او په اروپا او د نړۍ په نورو سیمو کې خپل پلویان پیدا کړي.[۵۰] په هنګري، سربیا او ایټالیا کې د اپوزیسیون مشرانو د چین مرستو څخه مننه کړې او د طبي تجهیزاتو د چمتو کولو له امله یې یاد هیواد ستایلی دی.[۵۱] په اپریل کې نیویارک ټایمز یو راپور خپور کړ چې اروپایي اتحادیې د چین حکومت فشار له امله، د کووید-۱۹ ناروغۍ په اړه د ناسمو معلوماتو په تړاو خپل راپور اصلاح کړ؛ ترڅو د یاد هیواد پر وړاندې نرم عمل وکړي.[۵۲] په هر صورت، د دې لیکنې په جریان کې، اروپایي کمیسیون خپل دریځ بدل کړی او په روښانه توګه یې د چین هیواد د ناسمو معلوماتو د سرچینې په توګه یادونه کړې او ویلي دي چې یاد هیواد د اروپا ډیموکراسي او د کووید-۱۹ پر وړاندې غبرګون، کمزوری کوي.[۵۳]

د امریکا متحده ایالاتو حکومت، په ځانګړي توګه د ټرامپ اداري لوړ پوړي چارواکي هم هڅه کوي ترڅو د خپلو جیوپولیټیکو اهدافو ترلاسه کولو لپاره، نړیوال روایتونه تر خپلې اغیزې لاندې راوړي. له همدې امله، دوي په خپلو رسمي څرګندونو کې د کووید-۱۹ ناروغۍ د "چینایي ویروس" یا "ووهان ویروس" په نامه یاد کړی او هغې تیورۍ باندې ټینګار کوي چې د کرونا ویروس په واهان کې د یو لابراتوار څخه خپور شوی؛ سره لدې هم پدې اړه بشپړ شواهد موجود ندي.[۵۴] د دې

ځرګندونې زياتوالی د اپوزيسيون وکيلان او قانون جوړوونکي دې ته وهڅول چې د آسيايي - امريکايانو وګړو پر وړاندې د احتمالي کرکې جرمونه د زياتوالي په اړه خبرداری ورکړي.[۵۵]

## مهمې موندنې

پراخو څېړنو پر ډيموکراسی د کوويډ-۱۹ پراخې اغيزې او د معلوماتو د بشپړتيا ننګونې په ډاګه کړې دي. د دې ليکنې تمرکز پدې دی ترڅو پر ټاکنيزې دورې د کوويډ-۱۹ ځانګړې اغيزې په ګوته کړي. همدا راز د ټاکنو پايلو، سياسي او ټاکنيزو پړاونو او کړنلارو او د ټاکنو محکمې او وروسته پړاونو د خلکو د باور کچې د ناروغۍ اغيزې وڅيړي.

د کوويډ-۱۹ ناروغۍ له خپريدو راهيسې او د دې ليکنې په ترڅ کې په نسبي توګه لږې ټاکنې ترسره شوې. دا لاندېنې ځرګنده شوې موندنې د هغو زده کړای شويو درسونو څخه اخيستل شوي چې په تيرو ټاکنو کې د کړکجنو ځرګندولو، ناسمو معلوماتو او ګنګوسو د اغيزو څرنګوالی په ګوته کوي.

### د ټاکنيزو مبارزو بهير پر سلامتيا د کوويد-۱۹ اغيزې

لکه څرنګه چې د کوويد-۱۹ ناروغۍ په ترڅ کې د تبليغاتو نورې لارې محدودې شوې دي، ګوندونه او نوماندان په پراخه کچه آنلاين کمپاينونو ته مخه کړې؛ ترڅو د ټولنيزو رسنيو له لارې رايې ورکوونکو ته لاسرسی پيدا کړي. دې ته په پام سره چې په ډېری هيوادونو کې د ټاکنيزو کمپاينونو په ترڅ کې د ټولنيزو رسنيو څخه د استفادې قواعد نوي دي، په ورته ډول په ټولنيزو رسنيو کې پر سياسي تبليغاتو څارنه هم محدوده ده؛ نو ښايي د ګوندونو او نوماندانو لپاره د ارتباطي چينلونو څخه د ناوړه ګټې پورته کولو فرصت زيات شي؛ ځکه چې د تبليغاتو يو لويه برخه په آنلاين شکل ترسره کيږي. د څارنې بيلابيلې درجې پدې معنا دې چې د سياسي تبليغاتو لګښت، د لګښتونو د راپور ورکولو او په ټولنيزو رسنيو کې د هغو د صحت د څيړلو په اړه لږ شمير حقوقي او بالفعل محدوديتونه موجود دي.

د ټاکنو چارواکو يا دولتي څارونکو لپاره چې اوس مهال د ټولنيزو رسنيو د څار او د نوماندانو آنلاين اعلاناتو د مصارفو د تعقيبولو واک يا ظرفيت نه لري؛ نو د داسې اقداماتو  ترسره کول په لنډ مهال کې شونې نه ښکاريږي. پداسې حال کې چې د څار عامه بنسټونه بايد په ټولنيزو رسنيو کې د کمپاين لګښتونو د تنظيمولو څرنګوالي په اړه له سره غور وکړي؛ د مدني ټولنې سازمانونه او څيړونکي خبريالان بايد د اړتيا په صورت کې د دې تشې د ډکولو لپاره په ګډه کار وکړي.

د ټولنيزو رسنيو روڼتيا بيلابيلو وسايلو شتون ته په کتو سره، دا دنده يو څه ستونزمنه شوې. د فېسبوک د اعلاناتو پاڼې (Facebook Ad Library)[۵۶] او د ګوګل روڼتيا راپور (Google Transparency Report)[۵۷] په څير د وسايلو کچه په هر هيواد کې توپير لري او لکه څنګه چې د ټولنيزو رسنيو شرکتونو سرچينې د کوويد-۱۹ په اړه فعاليتونو ته را اړول شوې؛ د سياسي اعلاناتو د روڼتيا برخې پراختيا (the expansion of political ad transparency features) ځنډول شوې.[۵۸] د ټولنيزو رسنيو شرکتونه بايد د اعلاناتو په روڼتيا ډير کار وکړي ځکه چې دا مسئله د ناروغۍ پرمهال خورا مهمه ده. که چيرې دا وسايل موجود وي او يا ډير ژر موجوديږي نو ښايي ځايي لوبغاړي د هغو د کارولو په اړه پوه نه وي. فيسبوک او ګوګل د نړيوالو شريکانو او ځايي ملګرو په ملګرتيا بايد د دغو وسايلو د فعاليت په اړه د عامه پوهاوی کچه په فعاله توګه اوچته کړي او د مدني ټولنې سازمانونو، خبريالان او څاروني سازمانونه د دغو وسايلو د استفادې په څرنګوالی په اړه، په ځانګړې توګه په هيوادونو کې چې ټاکنې ډير ژر بيا ترسره کيږي؛ وروزي.

### د ټاکنو تنظيم او عملياتو په سلامتيا د کوويد-۱۹ اغيزې

پداسې حال کې چې د کوويد-۱۹ له امله په ډېری هيوادونو کې ټاکنې ځنډول شوې، قانون جوړونکي پر دې بوخت دي چې څنګه کولای شي په ټاکنو کې د خلکو د سلامتيا نه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره د ټاکنو په بهيرونه کې بدلون راوړي. آيفيس ډېری داسې بدلونونه په *ټاکنو کې د سلامتيا ساتل*[۵۹] تر عنوان لاندې په خپله لومړي ليکنه کې تر بحث لاندې نيولی[۵۹] او د هغو قانوني او حقوقي اغيزې يې د ټاکنو پلی کيدو يا ځنډ په ترڅ کې قانوني ملاحظې[۶۰] تر عنوان لاندې د آيفيس په دويمه ليکنه کې رانغړ شوی دي. ډېری هغه د حل لارې چې وړاندې او عملي شوې؛ د تيرو ټاکنو د پلان او ترسره کيدو د څرنګوالی په اړه په تيره بيا د آنلاين يا اپليکيشن له لارې د رايې ورکولو امکان په اړه د عامه بحثونو او همدا راز د پستي رأيې ورکولو په اړه يو بنسټيز بدلون په ګوته کوي. د ټاکنو ترسره کولو د نيټې، وخت او د رأيې ورکونې د مرکزونو او د نورو کړنلارو بدلون، رأيې ورکوونکي دې ته اړ وباسې ترڅو د رأيې ورکونې د څرنګوالی په اړه نوي معلومات ترلاسه کړي.

په ورته وخت کې په یو هیواد کې د بیلابیلو نهادونو لخوا اختلافي پیغامونه کولای شي د ناسمو معلوماتو، کډوډۍ او ویرې لامل شي. دا ډول کډوډۍ د امریکا متحده ایالاتو په ویسکوسنین ایالت کې د ۲۰۲۰ کال د اپریل ۷ نیټې ټاکنې په ترڅ کې تر سترګو شوې ده. وروسته له دې چې د ټاکنو ځنډیدلو لپاره قانوني لایحه تصویب نه شوه، والي د دې پرځای یو اجرایوي فرمان صادر کړ. خو بیا د مخالفینو تر کنټرول لاندې د یاد ایالت مقننه قوه د والي دغه پریکړه په محکمه کې تر پوښتنې لاندې راوړه او په وروستۍ دقیقې کې محکمې د ټاکنو د ترسره کولو پریکړه وکړه.[61] دا ډول پیښې د دې لامل شوې چې رأیې ورکوونکي، د رایه ورکونې مرکزونو کارکوونکي او د ټاکنو چارواکي د خپلو دندو د پرمخ وړلو د څرنګوالي په اړه ډېر لږ لارښوونې ترلاسه کړي؛ ځکه چې د ټاکنو ترسره کېدو یوه ورځ وړاندې هم دا مسئله روښانه نه وه چې ټاکنې به ترسره شي یا نه.

د ټاکنو پر اساسي او له وړاندې پېژندل شویو کړنلارو د دغو لوژستیکي بدلونونو بې سابقه ډول بنایي د رایې ورکوونکو او د ټاکنو نورو ښکیلو خواوو ترمنځ ګډوډۍ رامنځته کړي. احتمال لري چې مخالفین لدې ګډوډۍ څخه د ناسمو معلوماتو د خپرولو، د نوم لکنې بهیر او د رأیې ورکوونکو د ګډون کچې د زیانمنولو لپاره استفاده وکړي. پداسې حالت کې د هغو دودیزو تاکتیکونه پېژندنه بنایي خورا ستونزمنه وي کوم چې په ټاکنو کې د رایې ورکوونکو د ګډون مخه نیسي – لکه د رأیې ورکونې لپاره د ناسمې نیټې شریکول یا د رأیې ورکونې ځای او څرنګوالی په اړه مشکوکې لارښوونې. د بیلګې په توګه: کله چې رأیې ورکوونکي د رأیه ورکولو په کړنلارو کې د بدلون راوړلو په اړه خبر وي خو د نویو بدلونونو په اړه روښانه معلومات و نه لري؛ نو کیدای شي چې د ټولنیزو رسنیو هغه پوسټونه دوي ته د بارو وړ وي چې دوي رأیې ورکولو ته رابولي. دا ډول تاکتیکو د امریکا متحده ایالاتو د ۲۰۱۶ کال په ټاکنو کې د روسیې لخوا وکارول شول.[62] لکه ځنګه چې د ټولنیزو رسنیو او لندو پیام لیږلو ډیجیټلي برنامو له لارې د مستقیمو پیامونه لیږد د بهرنیو او حکومت پورې تړلو نفوذي فعالیتونو په تاکتیکونو کې شامل شوي[63]؛ دا پیامونه د خصوصي چینالونو له لارې هم رأیې ورکوونکو ته رسیږي چې د هغو لټون یا له مینځه وړل، خورا ستونزمن دي. د خلکو هغه برخه چې انټرنیټ ته محدود یا هیڅ لاسرسی نه لري په ځانګړي توګه له خطر سره مخ دي یا له هر څه بې خبره پاتې کیږي.

> پداسې حالت کې د هغو دودیزو تاکتیکونه پېژندنه بنایي خورا ستونزمنه وي کوم چې په ټاکنو کې د رایې ورکوونکو د ګډون مخه نیسي – لکه د رأیې ورکونې لپاره د ناسمې نیټې شریکول یا د رأیې ورکونې ځای او څرنګوالی په اړه مشکوکې لارښوونې.

د رأیې ورکونې په کړنلارو کې بدلونونه دا امکان هم زیاتوي چې هغه تیروتنې او بې نظمۍ چې د نویو کړنلارو له امله زیاتیږي؛ بنایي د درغلیو په توګه وګڼل شي. که څه هم دا ډول پیښنه پرته لدې چې د کووید-۱۹ ناروغۍ سره تړاو ولري؛ د آیوا ایالت د ۲۰۲۰ کال فبروري میاشت د ډیموکراټ ګوند ټاکنو په جریان کې، هغه وخت په روښانه توګه راڅرګنده شوه کله چې د ټاکنو پایلو د راپور ورکولو سیستم د یوې نه آزمایل شوې برنامې له لارې د سازش تیورۍ سپیناوی ول.[64] سربېره پردې، د درغلۍ یوه پیښنه هم بنایي د ناوړه ګټه اخیستنې لپاره پراخې ادعاوې پیاوړې کړي. د درغلیو په اړه دا ډول روایتونه بنایي په ټولنیزو رسنیو کې په چټکۍ سره خپاره شي چې په خپل وار سره د ټاکنو پر پایلو او د ټاکنو بهیر پر سلامتیا د خلکو باور له منځه وړلی شي.

که څه هم د رأیې ورکونې په بهیر کې بدلونونه په خپله د ګډوډۍ د حل لپاره کافي مواد چمتو کړي؛ خو دا ټولې اندیښنې هغه وخت څو برابره کیږي چې د کووید-۱۹ په اړه د ناسمو ټاکنیزو روایتونو سره ګډې شي. د ناروغۍ په جریان کې د رأیې ورکونې سلامتیا په اړه ویره د ناسمو معلوماتو او ګنګوسو په کارولو سره رامینځته کیږي؛ ځکه چې رأیې ورکوونکي د هغو روغتیایي اقداماتو په اړه د لارښوونې په لټه کې دي کوم چې د رأیې اچونې په مرکزونو کې پلې کیږي. پدې وروستیو کې د امریکې متحده ایالاتو په ۵۰ ایالتونو کې د ټاکنو چارواکو او ټاکنیز کمپاین کارکوونکو لپاره مجازي زده کړې جوړې شوې؛ ترڅو ورته برنامو ته چمتوالی ولري: "روسي هکران کولای شي د ټاکنو هغه چارواکي په نښه کړي چې له کورونو نه کار کوي. مخالفین کولای شي د رأیې ورکونې په مرکزونو کې د کرونا ویروس د خپریدو په اړه آوازې خپرې کړي ترڅو خلک په ټاکنو کې له ګډون څخه منع کړي. دوي داسې هم کولای شي چې د ناسمو معلوماتو کمپاینونه په لاره واچوي او داسې ادعا وکړي چې ټاکنې د ویروس له امله ځنډیدلې یا په بشپړ ډول لغوه شوې دي."[65]

پداسې یو حالت کې د رأیې اچونې مرکزونو کار کوونکو لپاره معتبر معلومات ډېر اړین دي. که چیرې د رأیې ورکونې په کړنلارو کې بدلون رامنځته کیږي؛ په تیره بیا که داسې بدلونونه ټاکنو ورځې ته نږدې راوړل کیږي؛ نو د رأیې ورکونې مرکزونو کار کوونکو به و نه توانیږي ترڅو د نویو کړندلارو د بشپړ پلې کولو لپاره، پوره روزنه ترلاسه کړي. ناسم معلومات یا ګنګوسې چې د رأیې ورکونې مرکزونو کارکوونکي هڅوې چې ګواکې دوي به له خطر سره مخ وي یا به بشپړ واک و نه لري؛ کولای شي د ناسوبتوب کچه لوړه کړي. بله خبره دا چې د رأیې ورکونې مرکزونو هغه کارکوونکي چې په کړنلارو کې د بدلونونو څخه خبر نه وي؛ بنایي پخپله د ناسمو معلوماتو په خپریدونکو بدل شي او رأیې ورکوونکو ته غلط معلومات وړاندې کړي.

د معلوماتو اعتبار ننګونو ته په پام سره د کووید-۱۹په اړه د عامه پوهاوي برنامې د رأیې ورکوونکو، ټاکنیزو بنسټونو، مدني ټولنې او سیاسي ګوندونو لپاره خورا مهم دي. حتی وړاندې لدې چې د ټاکنو مهال ویش وټاکل شي، په ټاکنو کې ټول برخه وال باید رأیې ورکوونکو ته د معلوماتو برابرولو لپاره خپلې سرچینې چمتو کړي او هڅوي ته د معتبرو معلوماتو د وړاندې کولو لپاره خپلې ارتباطي تګلارې په فعاله توګه پلان کړي. دا هڅې هغه وخت پلې کیدای شي کله چې د ټاکنو ترسره کېدو او

څرنګوالي په اړه وضعیت روښانه شي. په ټوله کې، باید کوښښ وشي چې د هڅې رأیې ورکوونکو ته ورسول شي؛ همدا راز د رأیې اچونې مرکزونو کارکوونکي ته داډ ورکړل شي چې د دوي سلامتیا لپاره اړین ګامونه پورته شوي او دوي به د ټاکنو پر ورځ د خپلو دندو د ترسره کولو په اړه لازم معلومات ترلاسه کړي؛ ترڅو دوي پرته له کومې ویرې خپلو دندو ته حاضر شي.

د استراتیژیکو او فعالو ارتباطي پلان جوړولو سربیره، د ټاکنو چارواکي باید د بحران د ارتباطاتو پلان (crisis communication plan) جوړ کړي؛ ترڅو دوي و کولای شي د ناسمو روایتونو یا ګنګوسو د خپریدو په صورت کې مناسب ځواب وړاندې کړي. دا پلانونه باید د ټاکنیزو نهادونو د کورنیو اړیکو چینالونه هم واضح کړي؛ دا چې دوي له نورو دولتي ادارو او ټاکنیزو شریکانو سره څرنګه همغږي کوي او د اړوندو ستونزمنو مسئلو په اړه څرنګه او چاته راپور ورکړي.[۶۶] هغه ننګونې چې د کووید-۱۹ په اړه د ناسمو معلوماتو، ګنګوسو او کرکجنو څرګندونو له امله راپورته کیږي باید د ټاکنو چارواکو او د رأیې ورکونې مرکزونو کار کوونکو لپاره په روزنیزو برنامو کې شامل شي؛ او همدارنګه باید د برنامو پر اغیزمنتوب هم ټینګار وشي چې کوم پروګرامونه ګټور دي چې ترسره شي او کوم پروګرامونه زیانمنونکي دي چې باید ترې ډډه وشي.

په هغو مستبدو او نیمه مستبدو هیوادونو کې چې ټاکنې ترسره کوي، ناسم معلومات پدې موخه خلکو ته وړاندې کیږي چې په ټاکنو کې خپله بریا خوندي کړي؛ چې دا کار بنایي د رأیې ورکوونکو سلامتیا زیانمنه کړي. د بنګلادیش د ټاکنو کمیسیون خپلې منځنۍ ټاکنې د مهال ویش څخه وړاندې د مارچ میاشتې په وروستیو کې ترسره کړې چې په پایله کې د واکمن ګوند نوماند د ۵ سلنو رأیو په ګټلو سره بریالی شو؛ ځکه چې د ګډون کچه د کووید-۱۹ د خپریدو له ویرې او د مخالفینو د ارعاب له امله راټیټه وه.[۶۷] سره لدې چې لهستان خپلې ټاکنې ځنډولي او په روسیې کې د اخته کسانو لوړ شمیر حکومت ته اجازه نه ورکوي چې د ناروغۍ له پراختیا څخه سترګې پټې کړي؛ د ناروغۍ په لومړیو کې د ټاکنو ترسره کولو لپاره د یادو حکومتونو هڅې، د دې لپاره وې چې په واک کې ښکیل سیاستوال د بحران په عادي ښودلو سره خپل واک پیاوړی کړي.

د ټاکنو تنظیم کوونکو نهادونو ترمینځ خبرې اترې چې د بیلابیلو تجربو خاوندان دي، ډیر اهمیت لري؛ ځکه چې دوي کولای شي له خپلو سیالانو څخه کوم چې په سختو شرایطو کې، سختې پریکړې او تنظیمات کوي، یو څه زده کړي.

د اروپا لپاره د آیفیس سیمه ایز پروګرام ( IFES' Regional Europe program) د ټاکنو تنظیم کوونکو نهادونو لپاره یوه کاري ډله جوړه کړې چې د ټولنیزو رسنیو لخوا د خپارو شویو ننګونو او ناسمو معلوماتو د خبرولو پر وړاندې مبارزې کې چې اوس مهال د کووید-۱۹ له امله پراخ شوي دي، تخصص لري. د ۲۰۲۰ کال په مې کې د دې مجازی کاري ډلې په جوړیدو سره په ختیځ بلاک او لویدیځ بالکان کې د ۱۳ هیوادونو نږدې ۵۰ ټاکنیز چارواکي سره راټول شوي او د کووید-۱۹ په دوران کې د ټاکنو په اړه د ناسمو معلوماتو او ګنګوسو د ننګونو په اړه د بحث لپاره یو مجتمع رامینځته کړي. دغه کاري ډله د خپلو ټاکنیزو سیالانو لپاره لازمې زمینې رامینځته کړی ترڅو د هغوی ظرفیت لوړ او د ټاکنو ترسره کوونکو نهادونو لپاره ښه روښانه ِ

همدا راز د ټولنیزو رسنیو په استفاده کې زیاتوالی او د کووید-۱۹په اړه د ناسمو معلوماتو خپریدل، د یادو رسنیو د فلیټ فارمونو ظرفیت آزمایلی ترڅو په خپلو پاڼو کې د هغو محتویاتو بیا کتنه وکړي چې د کووید-۱۹پورې اړه نه لري. د مینځپانګې کنټرول کوونکی د هغوي د کاري ځایونو د ناامنۍ له امله خپلو کورونو ته استول شوي او دا کار د مجازي کاري ځواک ترمنځ ویشل شوی کوم چې تر ډیره بریده د الګوریتمیک څارنې کم اغیزه میتودونو باندې تکیه کوي.[۶۸] د وړتیا ټیټې کچې ته په کتو سره، د مینځپانګې کنټرول کوونکي، د رأیې ورکوونکو مخنیوي، په ټاکنو کې لاسوهنې او کرکجنو څرګندونو پر ځای تر ډیره بریده پر کووید-۱۹ تمرکز کوي. که څه هم ډیرې ټاکنې وروسته له هغه وځنډیدلې چې د روغتیا نړیوال سازمان د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۱۱، کووید-۱۹ د یوې پاندیمې په توګه اعلان کړه. لدې سره د ټاکنو اړوند مینځپانګو څارنې لپاره بیړنۍ اړتیا راټیټه شوه. ځکه چې اوس مهال دا نیټې بیا تنظیم شوې نو دا ظرفیت باید لوړ شي.

د انټرنیټ مینځپانګو د څار اداري (Stanford Internet Obervory) څیړونکو یو د شمیر اضافي اقداماتو وړاندیز کړي چې کولای شي د چین او نورو لوبغاړو لپاره چې د ټولنیزو رسنیو له لارې بهرنیو مخاطبینو ته ناسم معلومات او غلط تبلیغات خپروي، د اصطکاک یوه پاڼه رامنځته کړي. پدې وړاندیزونو کې د پیسو پر وړاندې د هغو رسنیو لخوا د سیاسي اعلاناتو پر خپرولو بندیز هم شامل دي چې د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو خدماتو د ثبت قانون له مخې ثبت شوې دي. چې دا کار د پیسو پر وړاندې د بهرنیو مخاطبینو لپاره د اعلاناتو خپرولو په برخه کې د چین دولتي رسنیو وړتیا محدوده وي. د انټرنیټ مینځپانګو د څار اداري دا سپارښتنه هم کوي چې د تصدیق شویو ډیپلوماټیکو یا دولتي رسنیو د حسابونه وړتیا کمه شي ترڅو د هغو منتقدینو حسابونه وتړل شي یا د هغو د حسابونو محتویات نورو ته د لیدو نه وي کوم چې انتقادي غبرګونونه خپروي. یاده اداره سپارښتنه کوي چې تخنیکي بسترونه "د هغو هیوادونو پر دولتي رسنیو او د دولت استازو پر حسابونو هم بندیز ولګوي کوم چې خپلو حسابونو ته د خپلو وګړو لاسرسی بندوي"او دا چې "دولتي رسنیو ته اجازه ورکوي چې د بیان له آزادۍ څخه په استفادې سره، د بیجنګ روایتونه نړۍ ته رسوي؛ پداسې حال کې چې خپلو اتباعو ته اجازه نه ورکوي چې انتقادات وکوري." فیسبوک پدې وروستیو کې یوه پالیسۍ غوره کړې چې د مینځپانګو د لیبلولو له لارې پر دولت پورې تړلې رسنۍ دې ته سوق کوي چې د امریکا 2020 ټاکنو دمخه د رسنیو پوښښ بند کړي. دا اقدامات باید په نړیواله کچه پراخ او پلي شي.

## د ټاکنو وروسته بهیر پر سلامتیا د کووید-۱۹ اغیزې

د ټاکنو ورځې وروسته دغه سمدلاسه موده هم د ناسمو او غولوونکو معلوماتو د خپرولو لپاره یو خطرناکه دوره ده. د بیلګې په توګه: که چیرې د رأیې اچونې په مرکزونو، د رأیې شمیرنې او د پایلو لیږد په ترڅ کې د درغلیو یا ناوړه چلند ادعاوې د دې لامل شي چې وکړي د خپل حق څخه د محرومیدو احساس وکړي؛ نو لدې سره به د خلکو لخوا د پایلو منل کمزوري یا د ټاکنو وروسته د تاوتریخوالي احتمال ډیر شي. د کووید-۱۹ په تړاو ځانګړي روایتونه کولای شي دا خطر ډیر کړي. د ټاکنو وروسته د ویروس زیاتوالي په اړه د ناسمو معلوماتو د خپرولو احتمال، په ځانګړي توګه د ناورغې په جریان کې د ټاکنو لومړي پړاو په اړه څرګندونې، په نورو ټاکنو کې د ګډون لپاره د رأیې ورکوونکو او د ټاکنو کار کوونکو ویره ډیره وی. په ورته ډول، لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، ناسم معلومات چې تیروتنې، درغلي کېدې کولای شي پایلې غیر قانوني ښکاره کړي یا په ځانګړو ټاکنیزو حوزو یا ټول هیواد کې د پایلو د لغوه کولو لپاره قانوني ننګونې رامینځته کړي. پداسې حال کې چې دا زیانونه اوس محال په لویه کچه عملي ندي؛ خو پیژندل خورا مهم دي ترڅو د هغو د راکمولو لپاره اړین ګامونه پورته شي.

د ټولنیزو رسنیو پلیټ فارمونو بشمول د ټاکنو چارواکي او نور فعالین چې په ډیموکراتیک بهیر کې ونډه لري؛ باید د خپلو پلان جوړولو په ترڅ کې د ټاکنو وروسته د ناسمو معلوماتو او کنګوسو د خپریدو احتمال په پام کې ونیسي. لکه څنګه چې وړاندې 'د ټاکنو تنظیم او عملیاتو' په برخه کې بیان شول؛ د ټاکنو تنظیم کوونکي نهادونه باید د ټاکنو وروسته دورې لپاره مقررات په خپلو د استراتېژیکو اړیکو او د بحران پر وخت اړیکو پر پلانونو کې شامل کړي. د اړیکو له تشې څخه د مخنیوي لپاره د اړیکو رامنځته کولو پلان جوړونه ډیر اهمیت لري؛ په ځانګړي توګه هغه وخت چې خلکو ته د پیام رسولو مسئولیت چې دمخه د ټاکنو تنظیم کوونکې ادارې په غاړه وه، د ټاکنو وروسته بلې ادارې یا سازمان ته سپارل کیږي. ملي شرایطو ته په کتو سره، د کووید-۱۹ ناروغۍ په اړه د ناسمو معلوماتو او کنګوسو پیښې چې د ټاکنو وروسته قانوني ننګونو یا تاوتریخوالي ته لمن وهی باید د روزنیزو برنامو په پلان کې شاملې شي. د ټولنیزو رسنیو عملیاتي سیستم لاربښوونې او معیارونه هم باید د ټاکنو وروسته مداخلې هڅې په پام کې ونیسي.

## د ډیموکراسۍ پر سلامتیا د کووید-۱۹ اغیزې

د ډیموکراسۍ پر سلامتیا د کووید-۱۹ډیری اغیزې *د ټاکنو ترسره کولو یا ځنډولو په ترڅ کې قانوني ملاحظات*[۷۱] تر عنوان لاندې د آیفیس د لیکنو په مجموعې او د 'خپلواکو او ځوابویونکو نهادونو ساتنه' په اړه د آیفیس په راتلونکې لیکنه کې په تفصیل سره بیان شوي دي. پداسې حال کې چې د ډیموکراسۍ په سلامتیا د کووید-۱۹ اغیزو پراخ تفصیل پدې لیکنه کې شونې ندي، موږ دلته د کووید-۱۹ په اړه د ناسمو معلوماتو او کنګوسو په جرمي کولو او د شریکولو په څرنګوالي تمرکز کوو چې ممکن په ډیموکراسۍ اغیزه وکړي.

حکومتونو د کووید-۱۹ په اړه د ناسمو معلوماتو او کنګوسو څخه د مخنیوي تر نامه یو لړ سخت دریځه او بیړني قوانین تصویب کړي؛ کوم چې پر ټاکنیزو مبارزو او د ډیموکراسۍ پر سلامتیا اغیزې کوي.[۷۲] پداسې حال کې چې حضوري غونډې د مشروع روغتیایي دلایلو له امله محدودې شوې؛ سخت دریځه قوانین چې په مجازي نړۍ (آنلاین چاپیریال) کې د راټولیدو او د بیان آزادۍ حق څخه مخنیوی کوي؛ د دولتي روایتونو تر پوښتنې راوړلو او د ږونتیا او ځواب ورکونې د تضمین لپاره د اپوزیسیون او مدني ټولنې وړتیا محدودوي. همدا راز یاد قوانین د څیړنیزو یا انتقادي موادو خپرولو لپاره د رسنیو هڅې هم زیانمنوي.

د بیلګې په توګه: بولیویا د ولسمشر په یو فرمان سره د "افواهونو" د جرم ګڼلو په اړه یو غیر معمولي ګام پورته کړی؛ چې پر مټ یې هغه کسان چې د کووید- 19 ناروغۍ پر وړاندې د حکومت اقداماتو په اړه "غلط معلومات" ورکړي یا "بې اعتمادي" رامینځته کړې، سزا ورکول کیږي.[۷۳] د هنګري پارلمان حکومت ته واک ورکړ چې په مارچ کې بیړنی وضعیت اعلان کړي. که څه هم پارلمان د جون په نیمایي کې د بیړني وضعیت د ختمولو لپاره رأیه ورکړه؛ دوي یو شمیر اقدامات ترسره کړل چې ولسمشر ویکتور اوربان (Viktor Orban) ته اضافي واک ورکوي.[۷۴] همدا راز دولت د هغه کس لپاره د پنځو کلونو بند احتمالي سزا و ټاکله کوم چې د کووید-۱۹ په اړه د ناسمو معلوماتو د خپرولو لپاره تورن وګڼل شي.[۷۵] په روسیه کې یو قانون تصویب شو چې له مخې یې د غلطو معلوماتو خپرولو تورن ته له دریو تر پنځو کلونو د بند سزا ورکول کیږي.[۷۶] دا ډول قوانین د ناوړه ګټه اخیستنې لپاره دروازې پرانیزي ځکه چې حکومتونه دا قوانین په خپله غوښنه د خپلو مخالفینو د چوپولو لپاره پلي کوي. دا قوانین د هغه لیدلوري په تعقیب رامنځته کیږي کوم چې د کووید-۱۹ ناروغۍ څخه وړاندې قانون جوړونکو په نړیواله کچه د ناسمو معلوماتو، کنګوسو او کرکجنو څرګندونو د جرم ګڼلو لپاره پداسې شکل کاروي چې د بیان آزادۍ ته زیان رسوي.[۷۷]

د مدني ټولنې سازمانونه، خبریالان او -که مناسب او اغیزمن وي - نړیوال فعالین باید د دې قانوني څپو پر وړاندې راپورته شي او مقاومت وکړي. هغه هیوادونه چې د ورته اقدام کولو په لټه کې دي ممکن د دې کار کولو لپاره مختلف هڅونې وکاروي - د قانون څخه پورته د قدرت توجیه کولو له غوښتنې څخه تر دې پورې چې باور وکړي چې دا ډول کړنې شرایطو ته په کتو سره مناسبې او روا دي. د هغو فعالینو لپاره چې قانون په ښه نیت سره تصویبوي، د هغو انګیزه باید وستایل شي؛ ځکه

چې د دې هدف ترلاسه کولو لپاره لږ زیان رسونکي لارې شتون لري. که اړینه وي نو تمویل کوونکي او د تخنیکي مرستو چمتو کوونکي کولای شي پرتلې مثالونه او د نورو کړنلارو لپاره غوره عملونه شریک کړي.

د دوهم ځل بدلونونو پایلې چې ټولنیز رسنې د کووید- 19 په ځواب کې د مینځپانګې بدلون تګلارو کې رامینځته کوي د پام وړ هم دي. که څه هم د مینځپانګې بدلون تګلارې د ناروغۍ دمخه تطبیق شوې وې؛ مګر د کووید-19 سره د کړندي ترکیب نوې پالیسۍ معرفي کړې چې ممکن خورا لرې اغیزې ولري. د مثال په توګه، فیسبوک هغه مینځپانګه یا محدود کړې چې له خلکو یې غوښتنه کوله چې د کور دننه پاتې کېدو پر ضد احتجاج وکړي؛ دا ځکه چې دا ډول لاریونونه د روغتیا صحي لارښوونو سره په مخالفت کې دي.[۷۸] که چیرې له پامه ونه غورځول شي، نو دا معیارونه - د حکومت لخوا په لاریونونو بندیز باید د مینځپانګې تنظیم کولو تګلارو تابع وي - ممکن د راتولیدو حق احتمالي ستونزې ولري.

## وړاندیزونه

پدې لیکنه کې وړاندیزونه د کووید-۱۹ په اړه پر هغو ځانګړو بدلونونو تمرکز کوي کوم چې په ډیموکراسۍ کې بشکیل اړخونه یې باید د یوې باوري معلوماتي فضا د پیاوړې کولو لپاره په پام کې ونیسي. د کرکجنو څرګندونو، ناسمو معلوماتو او د خپرو ګنګوسو پر وړاندې د مبارزې په اړه د وړاندیزونو لپاره: مهرباني وکړئ *په ټاکنو کې د کرکجنو ویناوو پر وړاندې مبارزه: د ټاکنو تنظیم کوونکو نهادونو لپاره تګلارې*[۷۹] او *ټولنیزې رسنۍ، ناسم اطلاعات او د ټاکنو سلامتیا*[۸۰] تر نامه لاندې د آیفیس لیکنو ته مراجعه وکړئ. سره لدې چې د کرکجنو څرګندونو، ناسمو اطلاعاتو او پراخو ګنګوسو پر وړاندې د ټولنې مقاومت د رامنځته کولو لپاره په اوږد مهال کې پراخو اقداماتو ته اړتیا لیدل کیږي؛ خو دا لیکنه د بیړنیو او ډیرو شدیدو ننګونو پر راکمیدو باندې تمرکز کوي. سره بیره پردې هغه اقدامات لکه مدني زدکړې او په ټولنه کې د یووالي رامینځته کولو هڅې باید په داسې شرایطو کې دوام ومومي.

### د ټاکنو تنظیم کوونکو نهادونو ته وړاندیزونه

۱. د ټاکنو تنظیم کوونکي نهادونه باید د ناسمو معلوماتو احتمالي کچې ته په کتو سره، د انفرادي روایتونو پر ځای د دا ډول معلوماتو د خپریدو ډله ایزو رسنیو پر وړاندې د اغیزمنې مبارزې لپاره د **ارتباطاتو په فعالو استراتیژیو** باندې تمرکز وکړي. دوی باید په پراخه کچه پر هغو اقداماتو ټینګار وکړي چې د خلکو روغتیا ساتلو د پیاوړې کولو لپاره اخیستل کیږي. کیدای شي په دا ډول اقداماتو په تیره بیا په ټولنیزو رسنیو کې په سمیه کې د څېړنو لپاره د تیلیفوني کرښو رامنځته کول شامل وي. دا ډول اقدامات باید په سم ډول تنظیم او خپاره شي.

۲. د ټاکنو تنظیم کوونکي نهادونه باید د رایې ورکوونکو د روزنې کمپاینونو له لارې د ټاکنو په ټولو پړاونو کې د اټکل شویو اقداماتو په اړه د رایې ورکوونکو **پوهاوی** لوړ کړي. دا ډول کمپاینونه باید هغه ډلې تر پوښښ لاندې ونیسي چې په ټولنه کې کم کېدون لري او هغه اقدامات په کې شامل وي چې د ټاکنو په ترڅ کې د خلکو روغتیا څخه ډاډ ترلاسه کړي او په اړونده قوانینو کې بدلونونه، د رایې ورکولو پرمهال د دوی د سلامتیا لپاره ښه روښونه او د رایې ورکولو د بدیلو لارو موجودیت تضمین کړي.

۳. کیدای شي ناسم معلومات، ګنګوسې، کرکجنې څرګندونې او همدا شان زیان رسوونکي روایتونه په چټکۍ سره خپرې شي؛ ځکه نو د ټاکنو چارواکي دې ته اړ دي ترڅو په دې اړه چټک او سم ځوابونه وړاندې کړي. لدې کبله د ټاکنو تنظیم کوونکي نهادونه باید حتی د ټاکنو د بیا مهال ویش تر ټاکلو دمخه، **د بحران ارتباطاتو پر پلان** جوړولو باندې تمرکز وکړي. د اړیکو لاینونه باید روښانه شي او د کواښ سره مخ ټولنې ته د پیغام رسولو د پیاوړتیا لپاره له نورو سازمانونو او باوري افرادو سره د همغږۍ رامنځته کولو استراتیژۍ جوړې شي.

۴. د ټاکنو تنظیم کوونکي نهادونه کولای شي د عامې روغتیا چارواکو او د وګړو لپاره نورو اړونده او باوري حکومتي ادارو او نورو مؤسساتو سره د اړیکو چینلونو په پام کې ونیسي. کیدای شي داسې اړیکې په بیلابیلو رسنیو (د تلویزیون، راډیو، چاپي او ټولنیزې رسنۍ) له لارې د محتوا بیا خپرولو سره ټینګې شي.

## د مدني ټولنې سازمانونو ته وړاندیزونه

۵. د مدني ټولنې نهادونه باید پداسې شرایطو کې د روڼتیا، حساب ورکونې او د خلکو ګډون د زیاتلو لپاره، **خپل څارنیز فعالیتونه** ډیر کړي. لکه څرنګه چې آنلاین کمپاینونه ورځ تر بلې مهم کیږي، د مدني ټولنې سازمانونه د حکومتي سرچینو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې، تبعیض، ناسمو معلوماتو، کنګوسو او کرکجنو څرګندونو او سرغړونو په اړه د عامه پوهاوي په لوړولو کې د پام وړ رول په غاړه لري.

۶. د مدني ټولنې سازمانونه باید د کرکې ډک پیامونو سره مبارزه وکړي او خلکو ته د زغم او ټولنیز یووالي ګټو په اړه په بڼه او پوره توګه روزنه ورکړي. پدې کې په ټاکنو کې تاوتریخوالي ته د رسیدو په ځانګړي توګه د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي او د لږه کیو ډلو د ملاتولو د ختمدو لپاره موخه‌ایز پروګرامونه شامل دي.

## سیاسي ګوندونو او نوماندانو ته وړاندیزونه

۷. سیاسي ګوندونه او نوماندان باید په خپلواک ډول یا د سیمه ییزو قوانینو، مقرراتو او د چلند له اصولو سره سم، **د تبعیض او کرکجنو څرګندونو څخه پاک د ټاکنیزو کمپاینو ترسره کولو ته ژمن وي**.

۸. سیاسي ګوندونه او نوماندان باید **د سیاسي تبلیغاتو او د ټاکنیزو کمپاینونو مالي لګښتونو افشا کولو** لپاره دادغوښتنې ترسره او د هغې مطابق عمل وکړي او په نورو سیاسي ګوندونو کې خپل سیالان دې ته اړ باسې ترڅو د ورته معیارونو سره سم عمل وکړي.

۹. سیاسي ګوندونه او نوماندان باید **د کووید-۱۹ په مقابل کې د خلکو سلامتیا لپاره د پیام رسولو سیستم په رامنځته کولو** کې په فعاله توګه ونډه واخلي او رایې ورکوونکو ته معلومات چمتو کړي او د رایې ورکونې په پروسه کې د بدلونونه په اړه له هغوي سره معلومات شریک کړي.

## نړیوالو مرستندویانو او تخنیکي مرستو چمتو کوونکو ته وړاندیزونه

۱۰. د اړتیا په صورت کې نړیوال فعالین باید د پرتلیز لیدلوري څخه په استفاده سره **د هغو قوانینو او مقرراتو د پلي کیدو مخه ونیسي** چې د ناسمو معلوماتو، کنګوسو او کرکجنو څرګندونو په جرم ګڼلو سره د بیان آزادي او رسنۍ په غیر مستقیم ډول ګواښوي؛ ډیپلوماتیک فشار راوړي. په ورته وخت کې د هغو قوانینو او مقرراتو د اصلاح لپاره د هڅو ملاتړ وکړئ کوم چې د کوښه کړای شوي ډلو ساته کوي او د دوي ګډون پیاوړی کوي.

## ټولنیزو رسنیو ته وړاندیزونه

۱۱. د ټولنیزو رسنیو پلیټ فارمونه باید **تضمین وکړي چې په ټاکنو کې د لاسوهنې او کرکجنو څرګندونو په اړه راپور ورکول، کوم چې د ټولنې معیارونو نقضوي، او د دا راز کړنو پر وړاندې د اغیزمنو اقداماتو ترسره کول، د هغوي لپاره لومړیتوب لري؛** په ځانګړي توګه دا چې د کووید-۱۹ ناروغۍ د زیاتوالي او د کارکوونکو د کمارنې پورې اړوندو مسلو له امله د مینځپانګو د کنټرول هڅې کمزوړې شوې.

۱۲. ټولنیزې رسنۍ باید په دوامداره توګه **د ټاکنیزو لاسوهنو د څرنګوالی او د کرکجنو څرګندونو له امله د نقضولو په اړه مختلف فیډبکونه په خپلو معیارونو او لارښودونو کې شامل کړی.** په ځانګړي توګه د ټاکنو وروسته دورې د سلامتیا ساتلو په اړه فیډبک.

۱۳. د ټولنیزو رسنیو پلیټ فارمونه باید **د ټاکنو تنظیم کوونکو نهادونو او عامې روغتیا چارواکو سره یو ځای کار وکړئ ترڅو د ټاکنو او د عامې روغتیا په اړه په پراخه کچه معتبر معلومات خپاره کړي.** پدې کې باید د رسمي حسابونو د تصدیقولو او هغو اشخاصو او ډلو د ملاتړ لپاره کړنلارې هڅې شامل وي کوم چې ناسم معلومات او ناوړه څرګندوي افشا کوي.

# سرچینې


۱. ټاکنې او روغتیا ساتنه. لیکوونکي: Buril, F. Darnolf, S. & Aseresa, M. (مۍ ۲۰۲۰). سرچینه: https://www.ifes.org/sites/default/files/ifes_covid19_briefing_series_safeguarding_health_and_elections_ may_2020.pdf

۲. د کووید-۱۹ په اړه د آیفیس د لیکنو مجموعه. سرچینه: https://www.ifes.org/ifes-covid-19-briefing-series

۳. آیفیس کووید-۱۹: د دیموکراسی د پایښت لپاره لارښود. سرچینه: https://www.ifes.org/covid-19

۴. د کووید-۱۹ په اړه خبرونه او معلومات: اټکلونه او چارچلند. (۲۰۲۰ اپریل ۹). سرچینه: https://www.ofcom.org.uk/__data/assets/pdf_file/0031/193747/covid-19-news-consumption-week-one-findings.pdf; د کرونا ویروس (کووید-۱۹) ناروغۍ په اړه خبري سرچینې کوم چې په ایټالیا کې په ۲۰۲۰ کې د یوې معتبرې سرچینې په توګه پېژندل شوې. لیکوال: Coppola, D. سرچینه: https://www.statista.com/ statistics/1113715/reliable-news-sources-during-the-coronavirus-italy/

۵. ویروس خپله لاره بدله کړې ده. د نیویارک ټایمز ورځپاڼه. لیکوالان: Koeze, E. & Popper, N. (۲۰۲۰ اپریل ۷). سرچینه: https://www.nytimes.com/interactive/2020/04/07/technology/coronavirus-internet-use.html

۶. کورونا ویروس ښايي د نړیوالې څېړنې په تاریخ کې ترټولو لوی ناورین وي. لیکوال: Sullivan, M. (۲۰۲۰ مارچ ۳). سرچینه: https://www.fastcompany.com/90477301/what-are-americans-googling-during-the-coronavirus-outbreak-celebrities-and-disney-world

۷. د کرونا ویروس له امله په چاپي سایټونو کې د ګڼګوڼې ۶۰ سلنه ډیروالی راغلی دی. میډیا پوسټ. لیکوال: Guaglione, S. (۲۰۲۰ مارچ ۱۷). سرچینه: https://www.mediapost.com/publications/article/348611/traffic-increases-60-to-publishers-sites-amid-co.html

۸. د کرونا وضعیت په اړه د خبرېز راپور (۲۰۲۰ فبروری ۲). د روغتیا نړیوال سازمان. سرچینه: https://www.who.int/docs/default-source/coronaviruse/situation-reports/20200202- sitrep-13-ncov-v3.pdf

۹. د کووید-۱۹ له وجې د ټاکنو ځنډول. آیفیس. (۲۰۲۰). سرچینه: http://www.electionguide.org/digest/post/17591/

۱۰. په سویلي کوریا کې د کرونا ویروس تست ترسره کول: څرنګه ټاکنې ترسره کړو. لیکوونکي: Jeong, A. Martin, T. وال ستریت ژورنال. (۲۰۲۰ اپریل ۱۵). سرچینه: https://www.wsj.com/articles/south-koreas-coronavirus-test-run-how-to-hold-an-election-11586948227 بیاکتنه: ۱۰ غوره شیان چې موږ باید د اپریل اوومې نېټې ټاکنو په اړه پرې پوه شو - کووید-۱۹. (۲۰۲۰ اپریل ۶). د وسکانسیس د ټاکنو کمیسیون. سرچینه: https:// elections.wi.gov/node/6818

۱۱. د کووید-۱۹ له امله د خبري رسنیو بندیدل او تعطیل. کتنه. لیکوال: Katz, B. (۲۰۲۰ مۍ ۲۰). سرچینه: https://observer.com/2020/05/news-media-digital-magazine-newspaper-publisher-layoffs-furloughs-closures-covid-19/

۱۲. توطئه کوونکي د کووید-۱۹ په اړه له یوټیوب څخه څرنګه ناوړه ګټه پورته کوی. د ام ای ټي ټکنالوژی. لیکوال: Ohlheiser, A. (۲۰۲۰ مۍ ۷). سرچینه: https://www.technologyreview.com/2020/05/07/1001252/youtube-covid-conspiracy-theories/

۱۳. د ناسمو معلوماتو ورکولو پر وړاندې مبارزه کول. د هاروارډ مجله. لیکوال: Pazzanese, C. (۲۰۲۰ مۍ ۷). سرچینه: https://news.harvard.edu/gazette/story/2020/05/social-media-used-to-spread-create-covid-19-falsehoods/

۱۴. د تېروتونکو معلوماتو ورکولو پر وړاندې موږ د روښنونو تازه کول. ټویټر. لیکوونکي: Roth, Y. & Pickles, N. (۲۰۲۰ مۍ ۱۱). سرچینه: https://blog.twitter.com/en_us/topics/product/2020/updating-our-approach-to-misleading-information.html د عامه پوهاوي لپاره زموږ د کړنو په اړه د تازه معلوماتو وړاندې او د کووید-۱۹ په اړه د ناسمو معلوماتو محدودول. فیس بوک. لیکوال: Rosen, G. سرچینه:

د کووید-۱۹په اړه د ناسمو روغتيايي معلوماتو ورکولو تکلاره. يوټيوب. (۲۰۲۰ مې https://about.fb.com/news/2020/04/covid-19-misinfo-update/;
۲۰). سرچينه: https://support.google.com/youtube/answer/9891785?hl=en

۱۵. سومالي د ټاکنو ملي خپلواک کميسيون. ټويټ. ۲۰۲۰ اپريل ۱۶ د سهار ۶:۱۴ بجې. سرچينه: https://twitter.com/NIECsomalia/status/1250729160894492674

۱۶. Mataan, A.C. :ليکوال.Guddiga doorashooyinka oo la filayo inay dib-u-dhac doorasho ku dhawaaqaan (۲۰۲۰ اپريل ۱۶).
سرچينه: https://www.caasimada.net/guddiga-doorashooyinka-oo-la-filayo-inay-dib-u-dhac-doorasho-ku-dhawaaqaan/

۱۷. Central Electoral National Independante, Repubique du Niger. (۲۰۲۰ مارچ ۲۲). ناوړه اقدامات د جعلي اعلاميې لامل شول. مطبوعاتي خبرپاڼه. (۲۰۲۰ مارچ ۲۲). سرچينه: http://www.ceniniger.org/wp-content/uploads/2020/03/ DEMENTI-DE-LA-CENI.pdf

۱۸. د آسياپانو پر وړاندې کرکه د کووید-۱۹د خپريدو په ترڅ کې هم د پراختيا په حال کې ده. الجزیره. ليکوال: Macguire, E. (۲۰۲۰ اپريل ۵). سرچينه:
https://www.aljazeera.com/news/2020/04/anti-asian-hate-continues-spread-online-covid-19-pandemic-200405063015286.html

۱۹. پداسې حال کې چې چين د کرونا ويروس دوهم موج سره مبارزه کوي، په ګوانګژو کې آفريقايان کوښه کړای شوي دي؛ د هغوي ډيرى شمېر د بيګانه ستيزۍ جګړې په ترڅ کې بې کوره شوي دي. سي ان ان. ليکوالان: Marsh, J. Deng, S. & Gan, N. (۲۰۲۰ اپريل ۱۲). سرچينه: https://www.cnn.com/2020/04/10/china/africans-guangzhou-china-coronavirus-hnk-intl/index.html

۲۰. د سپين پوستو برترۍ غوښتونکې ډلې د کرونا ويروس او د پيغام رسونې د يوې برنامې په مرسته، خلک ګماري. د ټايمز ورځپاڼه. ليکوال: Perrigo, B.
(۲۰۲۰ اپريل ۸). سرچينه: https://time.com/5817665/coronavirus-conspiracy-theories-white-supremacist-groups/

۲۱. تاوتريخوالی او مصيبتونه (۲۰۰۵). د روغتيا نړيوال سازمان. سرچينه: https://www.who.int/violence_injury_prevention/publications/violence/violence_disasters.pdf

۲۲. د جنسيت په تړاو تاوتريخوالی. د جنسيتي برابرۍ لپاره د اروپا سازمان. سرچينه: https://eige.europa.eu/covid-19-and-gender-equality/gender-based-violence

۲۳. په ټاکنو کې د ښځو پر وړاندې آنلاين تاوتريخوالی: د ټولنيزو رسنيو د څېړنې لپاره وسيله. آيفيس. (۲۰۱۹ سپتامبر ۱۹). سرچينه:
https://www.ifes.org/sites/default/files/violence_against_women_in_elections_online_a_ social_media_analysis_tool.pdf

۲۴. د ښځو په پرتله د نارينه وو د سواد کچه لوړه ده. د نړيوال بانک وبلاک. ليکوال: Wadhwa, D. (۲۰۱۹ سپتامبر ۵). سرچينه:
https://blogs.worldbank.org/opendata/more-men-women-are-literate

۲۵. د جنسيتي تشې په اړه نه بدليدونکى راپور. جي اس ام اى. (۲۰ مارچ). سرچينه: https://www.gsma.com/r/gender-gap/

۲۶. د سياسي وسلې په توګه د ناسمو معلوماتو کارول: کووید-۱۹په برازيل کې. د ناسمو اطلاعاتو څيړنه. ليکوالان: Ricard, J. Medeiros, J. (۲۰۲۰ اپريل ۱۷).
سرچينه: https://misinforeview.hks.harvard.edu/article/using-misinformation-as-a-political-weapon-covid-19-and-bolsonaro-in-brazil/

۲۷. 'مصر د کووید-۱۹ درملنې لپاره دارو پيدا کړي دي او د قاهرې د تبليغاتي دستګاه داسې نور عجيب او غريب داستانونه.' ليکوال: Tadros, S. (۲۰۲۰ مې ۷). سرچينه: https://www.washingtonpost.com/opinions/2020/05/07/egypt-has-found-cure-covid-19-other-outlandish-tales-cairos-propaganda-machine/

۲۸. پورتنۍ سرچينه (Ibid.)

۲۹. هند: ویروس، د اسلام ډار او د ټولنې د ویشلو زیاتیدل. د نړیوالې سولې لپاره د کارنګي مرسته. لیکوال: Sahoo, N. (۲۰۲۰ اپریل ۲۸). سرچینه: https://carnegieendowment.org/2020/04/28/ india-infections-islamophobia-and-intensifying-societal-polarization-pub-81646

۳۰. د تعصب پراختیا و په هند کې ځپنه. د نیویارک تایمز ورځپانه. لیکوال: Varadarajan, S. (۲۰۲۰ اپریل ۲۱). سرچینه: https://www.nytimes.com/2020/04/21/opinion/coronavirus-india.html

۳۱. په فوق‌العاده شرایطو کې د لږکیو حقونه. ځیرنیز لیدلوری. لیکوال: Admani, N. (۲۰۲۰ اپریل ۱۱). سرچینه: https://groundviews.org/2020/04/11/the-rights-of-minorities-under-extraordinary-circumstances/

۳۲. دولتي راپور: د روسې، چین او ایران د ناسمو اطلاعاتو روایتونه منعکس کیږي. سیاسي. لیکوال: Swan, B. W. (۲۰۲۰ اپریل ۲۱). سرچینه: https://www.politico.com/news/2020/04/21/russia-china-iran-disinformation-coronavirus-state-department-193107

۳۳. د وبا په اړه تبلیغات په لار دي.هغو ته تیار وسئ. نیویارک تایمز ورځپانه. لیکوال: Zakem, V. (۲۰۲۰ اپریل ۲۲). سرچینه: https://www.nytimes.com/2020/04/22/opinion/coronavirus-disinformation.html

۳۴. 'موږ ولې رأیه ورکړه؟' د فرانسې د ټاکنو چارواکې د کووید-۱۹ په ترځ کې د جنجالي رأیې ورکونې څخه یو اوونی وروسته ناروغ شول. (۲۰۲۰ مارچ ۲۴). روسیه تایمز. سرچینه: https://www.rt.com/news/483914-france-election-official-coronavirus/

۳۵. نوي شواهد ښیې چې څنګه د روسیې په ټاکنو کې لاسوهنه لا نوره زړوره شوې ده. د برنان عدالت مرکز. لیکوال: Kim, Y. M. (۲۰۲۰ مارچ ۵). سرچینه: https://www.brennancenter.org/our-work/analysis-opinion/new-evidence-shows-how-russias-election-interference-has-gotten-more; او پورتنی سرچینه (*Ibid.*)

۳۶. نړیوال راپور: روسیه په اروپا کې د کرونا ویروس په تم ځای بدله شوې ده. د ګاردین ورځپانه. لیکوال: Henley, J. (۲۰۲۰ می ۷). سرچینه: https://www.theguardian.com/world/2020/may/07/global-report-france-to-ease-lockdown-as-russia-becomes-coronavirus-hotspot

۳۷. د پوتین د کرونا ویروس بحران د روغتون د بې ساري سوځیدو او د ویاند د تشخیص سره ژور شوی دی. سي ان ان. لیکوال: Hodge, N. (۲۰۲۰ می ۱۳). سرچینه: https://www.cnn.com/2020/05/12/europe/russia-fire-coronavirus-patients-intl/index.html

۳۸. د کرونا ویروس د خپریدو سره یو ځای، چین او روسې د ناسمو اطلاعاتو په خپریدو لاس پورې کړی دی. نیویارک تایمز ورځپانه. لیکوالان: Barnes, J. E. Rosenberg, M. & Wong, E. (۲۰۲۰ اپریل ۱۰). سرچینه: https://www.nytimes.com/2020/03/28/us/politics/china-russia-coronavirus-disinformation.html?smid=em-share. دا څیرنه باید دا حقیقت هم په پام کې ونیسي چې تر دې وروستیو پورې د روسیې حکومت په هیواد کې د ناروغۍ اهمیت له پامه غورځولی او په هیواد کې یې د ډاکټرانو د شکمنو وژنو شمیره ټیټه ښودلې.

۳۹. روسیه په اروپا کې د کرونا ویروس د شمالي آتلانتیک پیمان (ناتو) پر ضد عملیاتو د فشار یوه برخه ګرځولې. لیکوال: Tucker, P. (۲۰۲۰ مارچ ۲۶). سرچینه: https://www.defenseone.com/technology/2020/03/russia-pushing-coronavirus-lies-part-anti-nato-influence-ops-europe/164140/?oref=defense_one_breaking_nl

۴۰. پورتنی سرچینه (*Ibid.*)

۴۱. پورتنی سرچینه (*Ibid.*)

۴۲. پورتنی سرچینه (*Ibid.*). په ډونباس کې له بهرنی نړۍ څخه د کووید-۱۹ازموینو شمیره پټولو په اړه ورته اندیښنې شتون لري.

۴۳. سخت دریځه ډلې د کرونا ویروس په اړه د جعلي خبرونو د خپرولو لپاره د ټولنیزو شبکو څخه کار اخلي. راپور خبرداری ورکوي. (۲۰۲۰ می ۸). بروسیل تایمز. سرچینه: https://www.brusselstimes.com/belgium/110431/extremist-groups-are-using-coronavirus-to-pump-fake-news-on-social-media-report-warns/. پدې کې د فرانسې د فلاندر شوالیه او فرانسوي ژبې ښی ارخ سخت دریځ ملت شامل دي.

۴۴. پورتنۍ سرچینه (*Ibid.*).

۴۵. چین د روسي ناسمو اطلاعاتو د کتاب څخه يو پاڼه راخيستې. اکزوس. ليکوال: Allen-Ebrahimian, B. (۲۰۲۰ مارچ ۲۵). سرچينه: https://www.axios.com/coronavirus-china-russia-disinformation-playbook-c49b6f3b- 2a9a-47c1-9065-240121c9ceb2.html

۴۶. د چين دولت وياند وايي چې ښايي د امريکې ځواک د کرونا ويروس چين ته را دننه کړای وي. رويترز ورځپاڼه. ليکوالان: Blanchard, B. & Heinrich, M. (۲۰۲۰ مارچ ۱۲). سرچينه: https://www.reuters.com/article/us-health-coronavirus-china-ministry/china-government-spokesman-says-u-s-army-might-have-brought-virus-to-china-idUSKBN20Z2HJ

۴۷. پورتنۍ سرچينه (*Ibid.*).

۴۸. پورتنۍ سرچينه (*Ibid.*).

۴۹. د چين دولت د ناسمو اطلاعاتو نوي عصر ته ښه راغلاست. ډيپلومات ورځپاڼه. ليکوال: Cook, S. (۲۰۲۰ مې ۱۱). سرچينه: https://thediplomat.com/2020/05/welcome-to-the-new-era-of-chinese-government-disinformation/

۵۰. د ملګرو ملتونو سازمان مشر د کورونا ويروس پر وړاندې مبارزه کې د نړيوالې رهبرۍ نشتون باندې خواشيني څرګنده کړه. رويترز ورځپاڼه. ليکوال: Nichols, M. (۲۰۲۰ اپريل ۳۰). سرچينه: https://www.reuters.com/article/us-health-coronavirus-guterres/u-n-chief-laments-lack-of-global-leadership-in-coronavirus-fight-idUSKBN22C3IS; د کرونا ويروس پر وړاندې د ټرامپ غبرګون سره د امريکې نړيوال شهرت زيانمن شوی دی. ګاردين ورځپاڼه. ليکوال: Tisdall, S. (۲۰۲۰ اپريل ۱۲). سرچينه: https://www.theguardian.com/us-news/2020/apr/12/us-global-reputation-rock-bottom-donald-trump-coronavirus

۵۱. چين ايتاليا سره مرسته نه کوي. دا د معلوماتو د ښخړې خوځښت دی. فارين پاليسي. ليکوال: Ferraresi, M. (۲۰۲۰ مارچ ۳۱). سرچينه: https://foreignpolicy.com/2020/03/31/china-isnt-helping-italy-its-waging-information-warfare/

۵۲. د اروپا اتحاديې د چين تر فشار لاندې د کويد-۱۹ په تړاو د ناسمو معلوماتو په اړه خپل راپور نرم کړ. نيويارک تايمز ورځپاڼه. ليکوال: Apuzzo, M. (۲۰۲۰ اپريل ۲۴). سرچينه: https://www.nytimes.com/2020/04/24/world/europe/disinformation-china-eu-coronavirus.html

۵۳. د اروپا اتحاديه وايي چين د کويد-۱۹په اړه د ناسمو اطلاعاتو د "ستر موج" تر شا ولاړ دی. ګاردين ورځپاڼه. ليکوال: Rankin, J. (۲۰۲۰ جون ۱۰). سرچينه: https://www.theguardian.com/world/2020/jun/10/eu-says-china-behind-huge-wave-covid-19-disinformation-campaign

۵۴. د ووهان د څيړن ځای په تړاو د ټرامپ دولت د سازش په اړه څه بايد وکړو. اکزوس. ليکوال: Lawler, D. (۲۰۲۰ مې ۷). سرچينه: https:// www.axios.com/wuhan-lab-theory-trump-pompeo-coronavirus-2ed777f5-0fca-4653-9728-ed62dc48aaf2. html

۵۵. کلونه کيږي چې د آسيايي امريکايانو پر ضد کرکجن جرمونه د کميدو په حال کې دي. آيا د کرونا ويروس دا وضعيت بدلولی شي؟ واشنګټن پوست. ليکوال: Feinberg, A. (۲۰۲۰ اپريل ۱۳). سرچينه: https://www.washingtonpost.com/ politics/2020/04/13/hate-crimes-against-asian-americans-have-been-declining-years-will-coronavirus-change-that/

۵۶. د سياست، ټاکنو او ټولنيزو موضوعاتو په اړه اعلانات. فيس بوک. (۲۰۲۰ اپريل ۳۰). سرچينه: https://www. facebook.com/business/help/2405092116183307?id=288762101909005

۵۷. د هغو معلوماتو شريکول چې اطلاعاتو ته د لاسرسي، خصوصي حريم او امنيت په اړه د دولتونو او شرکتونو د پاليسيو او اقداماتو د اغيزې څرنګوالی روښانه کوي. د نړيوالې روڼتيا راپور. سرچينه: https:// transparencyreport.google.com/?hl=en

۵۸. په ۳۲ نورو هيوادونو کې د ټاکنو او سياست په اړه د کمپاين لپاره د اجازې غوښتنه. د سوداګرۍ لپاره فيسبوک. (۲۰۲۰ مارچ ۵). سرچينه: https://www.facebook.com/business/news/requiring-authorization-for-ads-about-elections-and-politics-in-32-countries

۵۹. ټاکنې او روغتیا ساتنه. آیفیس. لیکوالان: Buril, F. Darnolf, S. & Aseresa, M. (می ۲۰۲۰). سرچینه: https://www.ifes.org/sites/default/files/ifes_covid19_briefing_series_safeguarding_health_and_elections_ may_2020.pdf

۶۰. د ټاکنو ترسره کولو یا ځنډولو په وخت قانوني ملاحظات. آیفیس. لیکوال: Ellena, K. (جون ۲۰۲۰) سرچینه: https://www.ifes.org/sites/default/files/ifes_covid-19_briefing_series_legal_considerations_when_ delaying_or_adapting_elections_june_2020.pdf

۶۱. په ویسکانسین کې د لومړنۍ محکمې وروستي پریکړې ګډوډي رامنځته کړه. ملي راډیو پر ۸۸،۵ موج. ویاند: Greene, D. & White, L. (۲۰۲۰ اپریل ۷). سرچینه: https://www.npr.org/2020/04/07/828688379/last-minute-court-rulings-create-chaos-for-wisconsin-primary

۶۲. موږ بیا هلته ځو: روسیه تیاری نیسي ترڅو د کرونا ویروس په اړه د ناسمو معلوماتو له لیارې د ۲۰۲۰ کال په ټاکنو کې لاس وهنه وکړي. فارین پالیسي. لیکوال: Boyer,S. (۲۰۲۰ اپریل ۳۰). سرچینه: https://foreignpolicy.com/2020/04/30/2020- election-interference-russian-coronavirus- disinformation/

۶۳. پراخه کمپاینونه د کورونا ویروس په اړه جعلي خبري پیغامونه خپروي. فایننشیال تایمز. لیکوالان: Murphy, H., Di Stefano, M. & Manson, K. (۲۰۲۰ مارچ ۲۰). سرچینه: https://www.ft.com/content/34b6df5a-ea4a-471f- 8ac9-606580480049

۶۴. د آیووا د استازو ټولنې ولې زر د توطیې تیوري رامنځته کړې. آتلانتیک. لیکوال: Graham, D. (۲۰۲۰ فبروری ۴). سرچینه: https://www.theatlantic.com/ideas/archive/2020/02/iowa-caucus-conspiracy-theories/606055/

۶۵. ۲۰۲ سایبري امنیت: کرونا ویروس د نوامبر څخه یو څو میاشتې دمخه د ټاکنو امنیتي روزنې څخه بهر شو. واشنګټن پوست. لیکوال: Marks, J. (۲۰۲۰ می ۸). سرچینه: https://www.washingtonpost.com/ news/powerpost/paloma/the-cybersecurity-202/2020/05/08/the-cybersecurity-202- november/5eb463a1602ff11bb1177587/ coronavirus-has-upended-election-security-training-with-just-months-before-

۶۶. د کووید-۱۹ ناروین په ترڅ کې د ټاکنو ترسره کوونکو نهادونو لپاره د اړیکو لارښونې. انټرنشنال ایده. لیکوال: Bicu, I. (۲۰۲۰ می ۱۸). سرچینه: https://www.idea.int/news-media/news/communication-guidelines-embs-during-covid-19-crisis. Additional recommendations for EMB communication strategies can be found here

۶۷. ال محی الدین د پنځو سلنه رأیو په ګټلو سره د ډاکه په ټاکنو کې بریالی شو. د کرونا ویروس. نیوز اجنسي. لیکوالان: Das, T. K. & Foyez, A. (۲۰۲۰ مارچ ۲۲). سرچینه: https://www.newagebd.net/article/102921/als-mohiuddin-wins-dhaka- 10-by-polls-amid-5pc-turnout- intimidation

۶۸. فیس بوک د کرونا ویروس له وجې په زرګونه مجریان خپلو کورونو ته واستول. اوس الګوریتم د دې کار مسئول دي. واشنګټن پوست روځپاڼه. لیکوالان: Dwoskin, E. & Tiku, N. (۲۰۲۰ مارچ ۲۴). سرچینه: https://www. washingtonpost.com/technology/2020/03/23/facebook- moderators-coronavirus/

۶۹. د کووید-۱۹ په اړه د چین تبلیغاتو زیاتیدو لپاره باید د امریکا متحده ایالاتو رسنۍ اقدام وکړي. واشنګټن پوست ورځپاڼه. لیکوالان: DiResta, R. Molter, V. & Stamos, A. (۲۰۲۰ اپریل ۲۷). سرچینه: https://www.washingtonpost.com/ opinions/2020/04/27/chinese-propaganda-covid-19- grows-us-social-media-must-act/

۷۰. پر فیس بوک کې د دولت تر کنترول لاندې رسنیو باندې ټاپه لګول. د فیس بوک د خبر خونه. سرچینه: https://about.fb.com/news/2020/06/labeling-state-controlled-media/

۷۱. د ټاکنو ترسره کیدو یا ځنډولو کې قانوني ملاحظات. آیفیس. لیکوال: Ellena, K. (جون ۲۰۲۰). سرچینه: https://www.ifes.org/sites/default/files/ifes_covid-19_briefing_series_legal_considerations_when_ delaying_or_adapting_elections_june_2020.pdf

۷۲. د کووید-۱۹ پراختیا او بیړنی واک: د ډیموکراتیکو شتو ساتل. آیفیس. لیکوالان: Ellena, K. & Shein, E. (۲۰۲۰ مارچ ۳۰). سرچینه: https://www.ifes.org/news/emergency-powersand-covid-19- pandemic-protecting-democratic-guardrails. ځرنګه چې د آیفیس پدې څیړنه کې بحث شوی، څکه چې یو شمیر ډیر هیوادونه بیړنی حالت اعلانوی نو دا باید د جغرافیایي او مادی پلوه متناسب، له تبعیض پرته، لندمهاله او محدود و اوسي.

۷۳. د کووید-۱۹ په دوران کې د ناسمو اطلاعاتو سره مبارزه او د بیان آزادی څخه دفاع. د دولتونو لپاره وړاندیزونه. (اپریل ۲۰۲۰). اکسس نو. سرچینه: https://www.accessnow.org/cms/assets/ uploads/2020/04/Fighting-misinformation-and-defending-free-expression-during-COVID-19- recommendations-for-states-1.pdf

۷۴. د هنګري پارلمان جنجالي بیړنی وضعیت ته د پای ټکی کیښود. والز سریت ژورنال. لیکوالان: Panyi, S. & Hinshaw D. (۲۰۲۰ جون ۱۶). سرچینه: https://www.wsj.com/articles/hungarian-parliament-ends-controversial-state-of-emergency-11592331389

۷۵. د مجارستان لومړی وزیر کرونا ویروس سره د مبارزې لپاره بیړنی واک ترلاسه کوي. رویترز. لیکوالان: Dunai, M. & Than, K. (۲۰۲۰ مارچ ۳۰). سرچینه: s://www.reuters.com/article/us-health-coronavirus-hungary-law/hungarys-pm-wins-emergency-powers-to-fight-coronavirus-idUSKBN21H21T

۷۶. روسیه د کرونا ویروس د قرنطین نه مراعت کولو لپاره نقدي جریمې او زندان په پام کې نیولی. د مسکو ورځپاڼه. (۲۰۲۰ اپریل ۱). سرچینه: https://www.themoscowtimes.com/2020/04/01/russians-risk-fines-jail-time-for-dodging-coronavirus-quarantine-a69818

۷۷. د "جعلي خبر" د خپریدو له امله د بندي کولو ویره په توله نړۍ کې د خبریالانو ترمنځ د زیاتیدو په حال کې ده. واشنګټن پوست ورځپاڼه. لیکوال: Berger, M. (۲۰۱۹ دسامبر ۱۲). سرچینه: https://www.washingtonpost.com/world/2019/12/12/ theres-worrying-rise-journalists-being-arrested-fake-news-around-world/

۷۸. فیس بوک د احتجاج د تنظیم کوونکو لپاره محدودیت رامنځته کوي. والزسریت ژورنال. لیکوالان: Wells, G. & Restuccia, A (۲۰۲۰ اپریل ۲۰). سرچینه: https://www.wsj.com/articles/facebook-curbs-organizing-of-lockdown-protests-11587419628

۷۹. په ټاکنو کې د کرکجنو ویناوو پر وړاندې مبارزه: د ټاکنو ترسره کوونکو نهادونو استراتیژی ګانې. آیفیس. لیکوالان: Mohan, V. & Barnes, C. (۲۰۱۸ جنوری ۸). سرچینه: https://www.ifes.org/publications/countering-hate-speech-elections-strategies-electoral-management-bodies

۸۰. ټولنیزې رسنۍ، ناسم اطلاعات او د ټاکنو سلامتیا: د آیفیس کاري مقاله. لیکوالان: Martin-Rozumiłowicz, B. & Kužel, R. (۲۰۱۹ آګست ۱۴). سرچینه: https://www.ifes.org/publications/social-media-disinformation-and-electoral-integrity